# د حق او باطل جګړه کې الهي سنت


لیکوال:

دکتور عبدالکریم «زیدان»

ژباړن:

عبدالمالک «همت»

**د کتاب نوم:** د حق او باطل جګړه کي الهي سنت

**د کتاب اصلي نوم:** سنت الهی در پیکار میان حق و باطل

**ليکوال:** دکتور عبدالکريم «زيدان»

**ژباړن:** عبدالمالک «همت»

**موضوع:** نور عقيدوي مسائل (ايمان، جبر، اختيار، قضا او قدر، مهدی، انسان، شيطن، پيريې، فرشتی او...)

**د چاپ شمير:** لومړي (ديجيتال)

**د چاپ تاريخ:** سلواغه ۱۳۹۵ هـ ش - جمادي الأول ۱۴۳۸ هـ ق

**سرچينه:**

**دا کتاب د عقيدې د کتابخانې سايت نه داونلود شوی دی.**

**www.aqeedeh.com/pa**

**برېښنا ليک:** **book@aqeedeh.com**

**د موحدينو ګروپ ويب پاڼو**

www.mowahedin.com
www.aqeedeh.com
www.videofarsi.com
www.islamtxt.com
www.zekr.tv
www.shabnam.cc
www.mowahed.com
www.sadaislam.com

**په عقيدې سايت کي ددغه کتاب خپرول، دهغه د ټولو محتواوو سره دسايت د همغږۍ په معنا نه ده.**

contact@mowahedin.com

بسم الله الرحمن الرحيم

# لیکلړ

**لیکلړ ........................................................... أ**

**د ژباړن سریزه.................................................................. ۱**

**د لیکوال ژوند لیک او علمي آثار .................................... ۳**

(أ) ژوند او تحصیل یې:........................................ ۳

(ب) علمي او اداري دندي یې: ................................ ٤

(جـ) په علمي موسسو کي غړیتوب یې:...................... ٥

(د) سیاسي او دعوتي بوختیاوي یې:.......................... ٥

(هـ) په علمي غونډو کي ګډون یې: ........................... ٦

(و) تالیفات یې:................................................... ٦

**د حق او باطل تعریف .............................................. ۹**

د حق لغوي تعریف:................................................ ۹

د باطل لغوي تعریف: ............................................. ۱۰

د حق او باطل اصطلاحي تعریف:............................... ۱۱

د تدافع معنا:....................................................... ۱۱

له حق او باطل څخه موخه او د دواړو ترمنځ جګړه: .......... ۱۲

د حق او باطل ترمنځ جګړه، په حقیقت کي د هغو د پلویانو جګړه ده:................................................................ ۱۳

د حق او باطل ترمنځ جګړې هرومرو رامنځ ته کیږي: ......... ۱۳

په باطل کي د تېري او طغیان ځواک نغښتی وي: ............... ۱٤
حق باید داسي ځواک ولري چي ملاتړ یې وکړي: ............. ۱٦
د حق او باطل په جګړه کي د لوی څښتن سنت: ................ ۱۸
د مسلمانانو د مرستي په اړه د لوی څښتن سنت تخلف نه مومي:
........................................................................ ۲۰
کله کله الهي ملاتړ د ستر بري د ترلاسه کېدو لپاره څنډیږي: . ۲٤
کله هم مومنان تر بري د مخه د ستونزو او د دښمن د غلبې سره مخامخ کیږي: ...................................................... ۲۵
**د بري لاملونه او خنډونه او موانع یې ................................ ۳۱**
لومړی: ایمان ........................................................... ۳۱
د مسلمانانو اوسنی حال: .......................................۳۳
ایمان او د بریالیتوب مادي عوامل: ...........................۳۵
مادي ځواک له ارواییي (نفسي او روحي) پلوه هم اغېز ښندي: .۳۷
دوهم: له خدای څخه بېره او تقوا.................................... ٤۰
پوځیانو ته په تقوا سره د حضرت عمر رضي الله عنه وصیت:...............٤۲
دریېیم: د اسلام له دین څخه ننګه او ملاتړ......................٤۳
د الله د دین د مرستي لپاره د ډله ییزو تشکیلاتو رامنځ ته کول: .٤٦
څلورم: د نصرت بل عامل هم جهاد او د ځواک برابرول دي. ۵۰
د جهاد پرېښوول د لوی څښتن د عذاب بلنه ده: .................۵۱
هغه څه چي له جهاد څخه مخ اړوونکو ته ویل کیږي: ...........۵۳
جهاد ته د ځواکونو چمتو کول: ..................................۵۵
د ځواک مفهوم او ځواک بخښونکي عوامل: ......................۵۷
د ځواک چمتو کول اسلامي دنده ده:.............................۵۸
د پوځ ښه روزنه هم د ځواک چمتو کول بلل کیږي:..............٦۰

مسلمانان باید داسي پوځ ولري چي دښمن په ښېره کي واچوي: ٦٠.
پنځم: صبر، مصابره او مرابطه ......................................... ٦٢
د صبر او مصابرې سره مرسته کوونکي عوامل:..................... ٦٤
شپږم: د نصرت له عواملو څخه بل هم د لوی ښتن ذکر دی ٦٦
اووم: د نصرت بل لامل هم احتیاط دی ............................. ٦٧
مسلمانو قوماندانانو به خپلو پوځیانو ته د احتیاط او د نصرت د نورو عواملو د رعایتولو امر کاوه: ..................................... ٧٠

**د بري موانع ....................................................... ٧٢**

لومړی مانع: شخړي او اختلافونه............................. ٧٢
دوهم مانع: غرور او ځان ښکاره کول (ریا) ......................... ٧٣
نصرت د لوی ښتن له لوري دی: ......................................... ٧٤
د اسلامي جماعت بریالیتوب: ......................................... ٧٥
د اسلامي جماعت د اړتیا وړ ځواک: ................................. ٧٨
جماعت باید له شخړو او مخالفتونو څخه ډډه وکړي: ......... ٧٨
اسلامي جماعت باید له ریا او شبهه ناکو چارو څخه ډډه وکړي: ..................................................................... ٧٩

**د ژباړن لنډه پېژندنه ....................................................... ٨٣**

## قرآني مرغلري

﴿وَقُلۡ جَآءَ ٱلۡحَقُّ وَزَهَقَ ٱلۡبَٰطِلُۚ إِنَّ ٱلۡبَٰطِلَ كَانَ زَهُوقٗا ٨١﴾ [الإسراء: 81].

ژباړه: «ووايه (اعلان وکړه) چې حق راغی او باطل له منځه ولاړ، بې شکه چې باطل له منځه تلونکی دی».

﴿بَلۡ نَقۡذِفُ بِٱلۡحَقِّ عَلَى ٱلۡبَٰطِلِ فَيَدۡمَغُهُۥ فَإِذَا هُوَ زَاهِقٞۚ﴾ [الأنبياء: 18].

ژباړه: «بلکې موږ په حق سره پر باطل واری کوو او دا حق د باطل سر داسې ماتوي چې ګورې یې بیا محو سوی وي».

# د ژباړن سريزه

الحمد لله رب العالمين والصلاة والسلام على خير خلقه محمد وعلى آله واصحابه اجمعين، امابعد:

دغه کوچنی کتاب چې عربي نوم يې «بين الحق والباطل» دی د عراق د بغداد او د يمن د صنعاء د پوهنتونونو يوه پياوړي اسلامي، اصولي او فقيه عالم او مبارز استاد عبدالکريم زيدان ليکلی دی. دا کتاب د حق او باطل يا په بله وينا د مسلمانانو او نړۍ وال کفر تر منځ د ازلي او ابدي شخړې او جګړې په هکله په لنډه توګه کې، په ډېر خوږ انداز او مستدله او پرله پسې او اوږدې توګه غوره او پراخ معلومات وړاندې کوي او د دې جګړې په بهير کې د مسلمانانو د دندو مکلفيتونو او مسؤوليتونو د په ګوته کولو ترڅنګ، برې ته د دوی د رسېدو لپاره وړ او اصولي لارې چارې ورښيي.

دغه راز استاد زيدان په دې کتاب کې د لوی څښتن ﷻ د دين د مرستې او نصرت لپاره مسلمانان خپلو وجايبو ته متوجه کوي او د دې موخې د ښه سرته رسېدو لپاره د جهاد او جګړه ييزو ځواکونو د چمتو کولو په اړه لازمي ځرګندونې لري. د دې تر څنګ برياليتوب ته د رسېدو هغه خنډونه او موانع هم څرګندوي چې بايد مسلمانان ډډه ځنې وکړي او د لوی څښتن د دين د مرستې او نصرت لپاره د مسلمانانو د ډله ييزو تشکېلاتو رامنځ ته کول هم اړين او د اسلام له غوښتنو څخه ګڼي.

څنګه چي له څو کلونو راهیسي امریکایي او نورو اروپایي باطل پالو زمونږ پر اسلامي خاوره بربنډ تېری کړی دی او دلته او په عراق کي د حق او باطل جګړه د نړۍ وال کفر د ماتي پر لور په خرپ روانه ده، نو د دې لپاره چي زمونږ درانه او پر اسلام او هیواد مین هیوادوال د حق او باطل د جګړې په هکله هر اړخیز معلومات ولري او د اسلام د ننګي او دفاع او د هیواد د ژغورني په کار کي وړ ګټه څني واخلي، ځکه مو نو دا کتاب په ګرانه، خوږه پښتو وژباړی، لوی څښتنﷻ دي وکړي چي د اتلو افغانانو د دې زښتو زیاتو سربښندنو او هلو ځلو په بدله کي زمونږ له ګران اسلامي ټاټوبي څخه د پردو کفارو د تېري او یرغل ټغر ورټول سي او د لوی څښتنﷻ د کلام او د هغه د ستر پیغمبرﷺ د سنتو سره سم اسلامي نظام پکښي ټینګ سي او پر مونږ ټولو باندي په خپل رحمت او لورېینه سره په خپل ګران اسلامي هیواد کي هوسا او سرلوړی ژوند راپه برخه کړي. د دغسي ورځي په هیله.

نسأل الله أن ينصر إخواننا المجاهدين في سبيل الله في افغانستان وعراق و فلسطين وفي غيرها على عدوهم، وأن يجمع كلمتهم على الحق، وأن يوفق المسلمين جميعا لمساعدتهم والوقوف في صفهم ضد عدوهم، وأن يخذل أعداء الإسلام أينما كانوا وينزل بهم بأسه الذي لا يرد عن القوم المجرمين، إنه سميع قريب. وصلى الله وسلم على نبينا محمد، وآله وأصحابه، وأتباعه بإحسان.

## د لیکوال ژوند لیک او علمي آثار

### (أ) ژوند او تحصیل یې:

ستر او مجاهد عالم ډاکټر عبدالکریم زیدان یو له هغو پوهانو څخه دی چې خپل ځان یې په ډېره متواضعانه توګه او په صدق او صبر سره د علم خدمت او خپرېدو، په علم او حق خوښونه سره د مسلمانو پسوللو او د اسلام د مقدس دین تبلیغ او د نړۍ وال کفر سره ډغرو او مبارزو او حق ویلو او حق لیکلو ته وقف کړی دی.

لکه چې د دغه ستر پوهاند د اوږده ژوندانه د لوړو ژورو له مطالعې څخه څرګندیږي، هغه د دې نابودي دنیا په متاع پسي نه دی ګرځېدلی، بلکي علم او تواضع یې د شهرت ګټلو، مقام ترلاسه کولو او د غټانو او واکمنانو دروازو ته له درېدلو څخه راګرځولی دی.

دغه د فقهي، شریعت او اسلامي سیاست نامتوعالم په ۱۹۱۷م. کال د عراق د هیواد د پلازمېني بغداد په «هیج العاني» نومي ځای کي زیږیدلی او لوی سوی دی. د خپلي سیمي د قرآن کریم د زده کړي په مدرسه کي د قرآن د قرائت تر زده کړي وروسته یې لومړنۍ زده کړي په بغداد کي بشپړي کړې. بیا د بغداد دارالمعلمین ته شامل سو او له هغه څخه تر وتلو وروسته یې په لومړنیو ښوونځیو کي د ښوونکي په توګه دندي تر سره کړې. بیا د بغداد پوهنتون د حقوقو پوهنځي ته شامل سو او له دغه پوهنځي څخه تر فراغت وروسته د یوه دیني ښوونځي مدیر وټاکل سو.

بیا د مصر د قاهرې د اسلامي شریعت انستیتوت ته شامل سو او د ماسترۍ سند یې په ممتازه درجه ځني ترلاسه کړ. هغه نوموړي انستیتوت ته تر شاملېدو په دمخه او وروسته مهالونو کې د اسلامي فقهې او د هغې د مهمو مراجعو په هکله ځانګړي مطالعې وکړې، په تېره یې د شیخ الاسلام ابن تیمیه‌ﷺ او د هغه د شاګرد ابن القیم الجوزیه کتابونه ولوستل. بیا یې په ۱۹٦۲م.کال د قاهرې له پوهنتون څخه د دکتورا سند ترلاسه کړ.

## (ب) علمي او اداري دندې یې:

استاد زیدان د عراق دننه او د باندې لاندې دندې ترسره کړې دي:

1- د بغداد پوهنتون د حقوقو د پوهنځي د اسلامي شریعت د څانګې استاد او مشر وټاکل سو.

2- د بغداد پوهنتون د ادبیاتو د پوهنځي د اسلامي شریعت استاد او د دغه پوهنځي د دین د څانګې مشر وټاکل سو.

3- د بغداد د اسلامي څېړنو د پوهنځي استاد وټاکل سو.

4- د بغداد د اسلامي څېړنو د پوهنځي مشر وټاکل سو.

5- په ۱۹٦۸ کال د لږې مودې لپاره د عراق د اوقافو او دیني چارو وزیر وټاکل سو.

6- د ۱۹۹۲م.کال را په دې خوا د یمن د صنعاء د پوهنتون د اسلامي څېړنواو د ماسترۍ او دکتورا د څانګې د اسلامي شریعت د استاد په توګه دنده تر سره کوي.

7- پر پورتنۍ دنده سربېره په صنعاء کې د الایمان د پوهنتون د فقهې او د فقهې د اصولو د څانګې د استاد په توګه هم دنده

ترسره کوي.

## (جــ) په علمي موسسو کې غړيتوب يې:

ډاکټرعبدالکريم زيدان د ډېرو اسلامي علمي ټولنو غړی پاته سوی دی، په دې ډول:

1- د تېري ميلادي پېړۍ د اويايمو کلونو را په دې خوا د اسلامي پوهنتون د علماوو د مجلس غړی دی.

2- د ۲۰۰۰ کال را پــه دې خــوا د رابطــة العــالم الاســلامي د المجمع الفقهي د مجلس غړی دی.

3- د صنعاء د الايمان د پوهنتون د المجمع الفقهـي الاسـلامي د مجلس غړی دی.

## (د) سياسي او دعوتي بوختياوي يې:

د تېري ميلادي پېړۍ د پنځوسمو کلونو په لومړيو کـي د عـراق د اخوان المسلمين ګوند غړی سـو. د دغـه ګونـد بنسـټ اسـتاد محمـد محمود صواف په عراق کي ايښی وو. بيا په ۱۹۵۸ کال د دغه ګوند د مشرتابه ډلي غړی سو.

په ۱۹٦۰ کال د دغه ګوند د شورا د مجلس د ټاکنو په پايله کـي د دغه ګوند مراقب عام (مشر) وټاکل سو. تر نوييمـو کلونـو پـوري پـه ډېرو سختو، خطرناکو او مخفي شرايطو کي پـر دغـه دنـده پاتـه وو، بيا په ۱۹۹۲ کال د يمن صنعا ته ولاړ او تر اوسه هلته استوګنه لري.

## (هـ) په علمي غونډو کې ګډون يې:

استاد زيدان په حقوقو او اسلامي شريعت کې د تخصص او اريانوونکي پوهې او مهارت څښتن دی. ځکه نو په عراق، کويټ، مکه مکرمه، مدينه منوره، رياض، قطر او صنعاء کې جوړو سوو فقهي سيمينارونو او د فقهي موسوعو (دايرة المعارف) د ترتيب غونډو ته بلل سوی دی.

د يادولو وړ ده چې استاد زيدان ته د ده د «المفصل في احكام المراة والبيت المسلم» د ليکلو له امله د ملک فيصل جايزه ورکړه سوې ده. دغه کتاب د بېلابېلو اسلامي مذاهبو د فقهي مسايلو په هکله په يوولسو ټوکونو کې خپور سوی دی.

## (و) تاليفات يې:

استاد عبدالکريم زيدان په بېلو بېلو اسلامي او فقهي موضوعاتو کې ډېر کتابونه او رسالې ليکلي دي. چې د ځينو نومونه دادي:

1- أحكام الذميين والمستأمنين في دار الإسلام.
2- المدخل لدراسة الشريعة الإسلامية .
3- الكفالة و الحوالة في الفقه المقارن .
4- أصول الدعوة.
5- الفرد والدولة في الشريعة الإسلامية.
6- المفصل في أحكام المرأة وبيت المسلم في الشريعة الإسلامية.
7- الوجيز في شرح القواعد الفقهية في الشريعة الإسلامية .
8- الشرح العراقي للأصول العشرين.

9- اثر القصود في التصرفات والعقود.
10- اللقطة وأحكامها في الشريعة الإسلامية.
11- أحكام اللقيط في الشريعة الإسلامية.
12- حالة الضرورة في الشريعة الإسلامية.
13- الشريعة الإسلامية والقانون الدولي العام .
14- الاختلاف في الشريعة الإسلامية.
15- عقيدة القضاء والقدر وآثرها في سلوك الفرد .
16- العقوبة في الشريعة الإسلامية .
17- حقوق الأفراد في دار الإسلام .
18- القيود الواردة على الملكية الفردية للمصلحة العامة في الشريعة الإسلامية .
19- نظام القضاء في الشريعة الإسلامية .
20- موقف الشريعة الإسلامية من الرق .
21- النية المجردة في الشريعة الإسلامية .
22- مسائل الرضاع في الشريعة الإسلامية .
23- بحوث فقهية معاصرة .
24- موجز الأديان في القرآن.
25- المستفاد من قصص القرآن للدعوة والدعاة .
26- الإيمان بالقضاء والقدر .
27- القصاص والديات في الشريعة الإسلامية .
28- نظرات في الشريعة الإسلامية مقارنة بالقوانين الوضعية.
29- بين الحق والباطل .

د استاد زيدان ځيني نور ځيرنيز آثار هم سته چي تـر اوسـه نـه دي

خپاره سوي.

ویل کیږي چي ډاکټر زیدان چي عمر یې تر (۹۰) کالو اوښتی دی په ځینو ناروغیو اخته سوی دی، خو کله چي په 2009/8/21م نېټه له صنعاء څخه عمان ته د رسېدو پر مهال د ځینو دیني، علمي او سیاسي شخصیتونو سره د ملاقات په حال کي ولیدل سو تکړه ښکارېدی او د عراق د فیدرالي کېدو د حراموالي په هکله یې فتوا ورکړه. لوی څښتن دي د دې علمي کوښښونو او د حق په لار کي د هلو ځلو اجر ورکړي. آمین.

**عبدالمالک (همت)**
**همت ټاټوبی، پیرمحمد کاکړ**
**واټ، درېیمه ناحیه،**
**کندهار، د ۱۳۸۸ ل. کال**
**د لېندۍ د میاشتي دوه ویشتمه**

# د حق او باطل تعریف

## د حق لغوي تعریف:

د ابن منظور په «لسان العرب»[1] کتاب کي داسي راغلي دي: حق د باطل ضد دی. وَحَقَّ الْأَمْرُ: هغه کار حق او ثابت سو. یا د ازهري په وینا: واجب سو. په قرآن کریم کي هم «حَقَّ» د «ثابت سو» په معنا راغلی دی:

﴿قَالَ ٱلَّذِينَ حَقَّ عَلَيۡهِمُ ٱلۡقَوۡلُ﴾ [القصص: 63].

ژباړه: «هغو کسانو چي د عذاب حکم باندي ثابت سو وویل».

په دې بل آیت کي هم «حَقَّتْ» د «لازم او ثابت سو» په معنا راغلی دی:

﴿وَلَٰكِنۡ حَقَّتۡ كَلِمَةُ ٱلۡعَذَابِ عَلَى ٱلۡكَٰفِرِينَ ٧١﴾ [الزمر: 71].

ژباړه: «او اما پر کافرانو باندي د عذاب فرمان لازم او ثابت سو».

او «اسْتَحَقَّ الشَّيْءَ». یعني: د فلاني شي مستحق سو. په دغه معنا په قرآن کریم کي داسي راغلي دي:

﴿فَإِنۡ عُثِرَ عَلَىٰٓ أَنَّهُمَا ٱسۡتَحَقَّآ إِثۡمٗا﴾ [المائدة: 107].

ژباړه: «که معلومه سي چي همدغو دوو تنو (د خیانت له امله) گناه پر خپلو ځانو ثابته کړې ده».

---

١- لسان العرب، 11 / 332 او وروستي مخونه.

په «اَلْـمُعْجَمُ الْوَسِيط»[۱] کي هم داسي راغلي دي: «حَقَّ الْأَمْرُ يَحِقُّ حَقاً». يعنی: فلانی مسئلې صحت وموند، ثابته سوه او رشتیا وختل. او «تَحَقَّقَ الْأَمْرُ». يعنی: فلانی موضوع صحت وموند او عملاً پېښه سوه. او «حَقَّقَ الْأَمْرَ». يعنی: فلانی مسئله يې ثابته او جوته کړه او د هغې رشتينولي يې څرګنده کړه.

پورتنيو مطالبو ته په پاملرنه څرګنديږي چي د «حق» مفهوم پر ثبوت، لزوم او صحت ولاړ دی.

پردې بنسټ ويلای سو چي«حق» يعنی: ثابت،لازم اوصحيح.

## د باطل لغوي تعريف:

په «لسان العرب»[۲] کي راغلي دي چي «بَطَلَ الشَّيْءُ»: هسي خوشي چټي له منځه ولاړ او پوچ سو. باطل د حق ضد او جمع يې «اباطيل» ده.

همدا راز په «المعجم الوسيط»[۳] کي راغلي دي: بَطَلَ الشَّيْءُ: تباه او پوچ سو او حکم يې ساقط سو. «أَبْطَلَ الشَّيْءَ»: د فلاني شي ناسم والی يې څرګند کړ او هغه يې باطل کړ.

په «مفردات غريب القرآن»[٤] کتاب کي هم په دې هکله داسي راغلي دي: باطل، د حق نقيض دی او له هغي مسئلې څخه عبارت

۱- المعجم الوسيط، 1 / 187.
۲- لسان العرب، 13 / 59.
۳- المجم الوسيط، 1 / 60.
٤- مفردات...، راغب اصفهانی، 50.

دی چي کله یې وڅېړو جوت نه سي. لوی څښتن په قرآن کریم کي فرمايي:

﴿ذَٰلِكَ بِأَنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلۡحَقُّ وَأَنَّ مَا يَدۡعُونَ مِن دُونِهِ ٱلۡبَٰطِلُ﴾ [لقمان: 30].

ژباړه: «دا هرڅه له دې امله دی چي یوازي الله حق دی او له هغه پرته چي دغه خلک کوم نور شیان بولي هغه ټول باطل دي».

## د حق او باطل اصطلاحي تعریف:

فقهاوو د «حق» لپاره اصطلاحی تعریف نه دی ښوولی، ګواکي دوی د دې لغت په لغوي معنا بسنه کړې ده. او د همدې معنا پر بنسټ یې هغه په خپلو فقهي بحثونو کي د هغو خبرو لپاره چي د شریعت په حکم سمي، واجبي او ثابتي دي کارولی دی. په همدې ډول یې «باطل» د هغو چارو لپاره کارولی دی چي د شریعت له مخي ناسمي دي او د سمو شرعي چارو بنسټ نه جوړوي.

## د تدافع معنا:

په دې هکله په لسان العرب[1] کي داسي راغلي دي: «اَلدَّفْعُ: اَلْإِزالَـةُ بِقُوَّةٍ»، دفع یعنی: په ځواک او قوت سره د یوه شي له منځه وړل. ویل کیږي: دَفَعهُ یَدْفَعُهُ دَفْعاً وَدِفاعاً، یعنی: هغه یې په زوره لیري کړ. او «دافَعَ عَنْهُ» یعنی: له هغه څخه یې ننګه او دفاع وکړه او هغه ته د زیان رسېدو مانع سو.

په همدې معنا ده چي دعا کوو: «دَفَعَ اللهُ عَنْكَ المكروهَ دَفْعاً وَدِفاعاً». یا

۱- لسان العرب، 9 / 441 او وروستي مخونه.

«دافَعَ اللهُ عَنْكَ السُّوءَ دِفاعاً». یعنی: لوی څښتن دي ضرر او صدمه در څخه لیري کړي. او «تَدَافَعَ الْقَوْمُ». یعنی: له دې قومه څخه یوې ډلي بله ډله پر شا وتمبوله. او «مُدافَعَة». یعنی: یو له بله جنګ جګړه او رقابت او بالاخره «اندفاع» یعنی: په یوه کار پسي تلل.

همداراز په «المعجم الوسیط»[1] کي راغلي دي: دَفَعَ الشّيْءَ: فلانی شی یې په زور له منځه یووړ. په قرآن کریم کي راغلي دي:

﴿وَلَوۡلَا دَفۡعُ ٱللَّهِ ٱلنَّاسَ بَعۡضَهُم بِبَعۡضٖ لَّفَسَدَتِ ٱلۡأَرۡضُ﴾ [البقرة: 251].

ژباړه: «که الله ځیني خلک په ځینو نورو له منځه نه وړلای، نو خامخا به د مځکي نظام ګډ وډ سوی وای».

«دَفَعَ الْقَوْلَ»: هغه خبره په استدلال رد کړه. «دَفَعَ فُلاناً إِلى كَذا»: فلانی یې د فلاني کار تر سره کولو ته وګوماره. «دافَعَ عَنْهُ مُدافَعَةً وَدِفاعاً»: له هغه څخه یې ملاتړ وکړ او کشمکش یې جوړ کړ. «دافَعَهُ»: د هغه سره یې رقابت وکړ. دغه راز ویل کیږي: «هُوَ سَيِّدُ قَوْمِهِ غيرُ مُدافَعٍ». یعنی: هغه بې له کومي نزاع د خپل قوم مشر دی. «تَدافَعَ الْقَوْمُ»: یو بل یې پر شاوتمبول او جګړه یې سره وکړه.

## له حق او باطل څخه موخه او د دواړو ترمنځ جګړه:

زموږ موخه له حق څخه په دې کتاب کي هر هغه اعتقاد یا وینا یا کار دی چي د دین له مخي ثابت او صحیح وي او پرېښوول یا ترسره کول یې واجب وي.

---

۱- المعجم الوسیط، 1 / 288.

له باطل څخه هم په یاده سوې معنا د حق ضد دی، یعنې: هغه عقیده یا عمل چې له دیني پلوه ثبات او اعتبار ونه لري. صحیح نه بلل کیږي، پرېښوول یې لازم وي او د پاته کېدو وړ نه وي، بلکې له منځه وړل او ایسته کول یې په کار وي البته دا ټول د شریعت په حکم. پر دې بنسټ حق پر هر هغه څه مشتمل دی چې لوی څښتن یې امر کړی وي. او باطل پر هر هغه څه مشتمل دی چې لوی څښتن یې منع فرمایلې وي.

د حق او باطل ترمنځ له جګړې او تدافع څخه هم موخه داده چې د مناسبو شرایطو په رامنځ ته کېدو سره له دغو دوو څخه یو، دا بل له قدرت څخه په ګته اخیستنه حذف کې او له منځه یې یوسي.

## د حق او باطل ترمنځ جګړه، په حقیقت کې د هغو د پلویانو جګړه ده:

د حق او باطل په منځ کې جګړه په اصل کې د حق د خاوندانو او د باطل د پلویانو یا مومنانو او غیر مومنانو تر منځ جګړه ده. ځکه دوی هغه کسان دي چې د حق یا باطل مفاهیم په دوی اړه لري او هلې ځلې کوي چې دغه مفاهیم را څرګند او پلې کړي او د هغو پر بنسټ د خپل ژوندانه چاري سمبال کړي. په پایله کې د دواړو ډلو، یعنې د مومنانو یا د حق د خاوندانو او غیر مومنانو یا د باطل د خاوندانو ترمنځ شخړې، مزاحمتونه او جګړې رامنځ ته کیږي.

## د حق او باطل ترمنځ جګړې هرومرو رامنځ ته کیږي:

د حق او باطل یا د حق د خاوندانو او د باطل د پلویانو ترمنځ له جګړې څخه چاره نسته. د دوی ترمنځ جګړه حتمي ده. ځکه حق او

باطل یو له بله ضد دي او دوه ضد نه سره یوځـای کیـږي. د دې دوو ترمنځ روغه جوړه ناشونې ده. د دې دواړو ماهیت داسي دی چې لـه دوی څخه د یوه شتون د بل مزاحمت، طردول، دفع کـول، لـه منځـه وړل او نه شتون لازموي. یا یې لږ تر لږه بې سېکه کوي او د ژوندانـه په چارو کې یې د اغېزي ښندلو مخه نیسي. له دې امله په روغه جوړه کې د حق او باطل اوسېدل، پر یوه باندې د بل له ولکې او غلبې پرته د تصور وړ نه بلل کیږي. مګر هله چې څه علت موجـود وي، لکـه د حـق او باطـل د پلویـانو ضـعف، یـا د حـق او باطـل لـه مفـاهیمو او غوښتنو څخه د دوی جهل او ناخبري، یا په دوی کې د دې مفـاهیمو د اغېز ضعف.

## په باطل کې د تېري او طغیان ځواک نغښتی وي:

دمخه مو وویل چې د «تدافع» لغوي معنا له قـدرت څخـه پـه ګټـه اخیستنه د یوه شي له منځه وړل دي. له دې امله د حق او باطـل یـا د دې دوو د پلویانو ترمنځ جګړه پر زور او قدرت باندې پـه تکیـه سـره ترسره کیږي. په داسي توګه چې له دې دوو اړخونو څخه هر یو پر بل باندې د غلبې او د هغـه لـه منځـه وړلـو او د هغـه د ځـای او مرکـز د نیولو په لټه کې وي. پر دې بنسټ باطل پالي د دوی پـر اوسـنی واک او شتون او پر همدې اوسني باطل باندې پر پاته کېدو بسنه نـه کـوي. بلکې کوښښ کوي چې له زور او زرو څخه په ګټه اخیستنه او یا نـورو وسایلو د حق او حق پالونکو کمبله ټوله کړي او له منځه یې یوسـي، او خلک د دسیسو په جوړولو، د موانعو په ایجادولو او مرګ ژوبله له حق، حق پالو او حق پالني څخه راوګرځوي، څو هغه څـه چـې دوی

يې غواړي تر لاسه کړي.

هو، دا د باطل او د هغه د ځواک ځانګړنه ده. دغه ځواک هغه طغيان، پولو ماتولو او تېري ته وربولي او هڅوي يې چې ان د دغه ځواک له کاروني او د جګړو د اور بلوني څخه په ګټه اخيستنه د حق او د حق د خاوندانو له منځه وړلو ته ودانګي. لوی څښتن په دې هکله فرمايي:

﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ يُنفِقُونَ أَمۡوَٰلَهُمۡ لِيَصُدُّواْ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِۚ فَسَيُنفِقُونَهَا ثُمَّ تَكُونُ عَلَيۡهِمۡ حَسۡرَةٗ ثُمَّ يُغۡلَبُونَۗ﴾ [الأنفال: 36].

ژباړه: «کافران خپلې شتمنۍ د خدای له لارې څخه د منع کولو لپاره لګوي او اوس به يې لازياتې لګوي. خو په پای کې به دا لګښتونه د هغو لپاره د پښېمانتيا سبب وګرځي او بيا به هغوی مغلوب وي».

دغه راز فرمايي:

﴿وَلَا يَزَالُونَ يُقَٰتِلُونَكُمۡ حَتَّىٰ يَرُدُّوكُمۡ عَن دِينِكُمۡ إِنِ ٱسۡتَطَٰعُواْۚ﴾ [البقرة: 217].

ژباړه: «هغوی به تل ستاسي سره په جګړه اخته وي، ان که يې وس ورسيږي، نو تاسي به له خپل دين څخه واړوي».

له هغه ځايه چې د حق د پلويانو سره د حق د پټوونکو جګړه د دوی د عقايدو او باطلو ګټو د ننګې او دفاع لپاره ده، ځکه نو دا د طاغوت (شيطان) په لار کې جګړه ده. لکه چې لوی څښتن فرمايي:

﴿ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ يُقَٰتِلُونَ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِۖ وَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ يُقَٰتِلُونَ فِي سَبِيلِ ٱلطَّٰغُوتِ﴾ [النساء: 76].

ژباړه: «کومو کسانو چې ايمان راوړی دی د الله په لار کې جنګيږي او

کومو کسانو چي کفر غوره کړی دی د طاغوت په لار کي جنګیږي».
(طاغوت: شیطان، هر هغه باطل شی چي عبادت یې کوي او هرهغه چاته هم ویل کیږي چي وکړي له لوی څښتن پرته عبادت ورته کوي. ژباړن).

## حق باید داسي ځواک ولري چي ملاتړ یې وکړي:

نو څنګه چي خبره همدغسي وي او د باطل او د هغه د پالونکو ځانګړنه او د هغه د ځواکونو خصلت هغوی طغیان او جنګ او جدل ته وربولي، نو د حق خاوندان هم اړدي چي د باطل او باطل پالو له تېریو څخه د حمایې اوخوندي کېدو او د ناسمو د سمون لپاره ځان ته ځواک مونده کړي. ځکه نو لوی څښتن د حق خاوندان ګومارلي او موظف کړي دي چي د باطل د خاوندانو په زړونو کي د بېري اچولو او د حق پر مورچلو باندي د دښمنانو د تېریو د مخنیوي په موخه ځانته ځواک سمبال کړي او نظامي چمتو والی ولري.

﴿وَأَعِدُّواْ لَهُم مَّا ٱسْتَطَعْتُم مِّن قُوَّةٍ وَمِن رِّبَاطِ ٱلْخَيْلِ تُرْهِبُونَ بِهِۦ عَدُوَّ ٱللَّهِ وَعَدُوَّكُمْ وَءَاخَرِينَ مِن دُونِهِمْ لَا تَعْلَمُونَهُمُ ٱللَّهُ يَعْلَمُهُمْ وَمَا تُنفِقُواْ مِن شَيْءٍ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ يُوَفَّ إِلَيْكُمْ وَأَنتُمْ لَا تُظْلَمُونَ ۝٦٠﴾ [الأنفال: 60].

ژباړه: «او تاسي تر څو چي مو وس وي ډېر زیات ځواک او تیار زین کړي اسونه د هغو (دښمنانو) د مقابلې لپاره برابر کړئ څو په دې وسیله د الله پر دښمنانو، پر خپلو دښمنانو او پر هغو نورو دښمنانو تره او بېره راولئ چي تاسي یې نه پېژنئ، خو الله یې پېژني. د الله په لار کي چي تاسي هرڅه ولګوئ، د هغو بشپړ مکافات به ستاسي لوري ته راوګرځول سي او له تاسي سره به هیڅکله ظلم ونه سي».

دغه راز لوی ښتن د حق خاوندانو ته دنده سپارلې ده چي د باطل را پرځولو او د لوی ښتن د کلمې(وینا؛ دین او قوانینو) د لوړتیا او د کفر کلمې (کفر ته د بلني او د کفارو د شان د ټیټولو او د هغو د فرهنګ او قوانینو) د لغو کولو په موخه د جهاد لپاره د شتو، ځانو او هغو وسایلو چي په جګړه کي پکاریږي له ښندلو، په کار اچولو او برابرولو څخه ډډه ونه کړي. په قرآن کریم کي د جهاد د بېلو بېلو ډولونو او له هغې جملې څخه د نظامي جګړې په هکله ډېر آیتونه وجود لري، چي له هغو څخه یو دادی:

﴿ٱنفِرُواْ خِفَافًا وَثِقَالًا وَجَٰهِدُواْ بِأَمۡوَٰلِكُمۡ وَأَنفُسِكُمۡ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِۚ ذَٰلِكُمۡ خَيۡرٞ لَّكُمۡ إِن كُنتُمۡ تَعۡلَمُونَ ٤١﴾ [التوبة: 41].

ژباړه: «جهاد ته وخوځېږئ، خوځښت موپرتاسي سپک اوسي که درونډ او د الله په لار کي په خپلو مالونو او سرونو سره جهاد وکړئ، دا ستاسي لپاره ډېره ښه ده که تاسي پوهېږئ».

او بل دادی:

﴿كُتِبَ عَلَيۡكُمُ ٱلۡقِتَالُ وَهُوَ كُرۡهٞ لَّكُمۡۖ وَعَسَىٰٓ أَن تَكۡرَهُواْ شَيۡـٔٗا وَهُوَ خَيۡرٞ لَّكُمۡۖ وَعَسَىٰٓ أَن تُحِبُّواْ شَيۡـٔٗا وَهُوَ شَرّٞ لَّكُمۡۚ وَٱللَّهُ يَعۡلَمُ وَأَنتُمۡ لَا تَعۡلَمُونَ ٢١٦﴾ [البقرة: 216].

ژباړه: «پر تاسي باندي جنګ فرض سو، په داسي حال کي چي هغه تاسي ته ستونزمن دی، کېدای سي چي له یوه شی څخه ستاسي بد راسي، خو هغه تاسي ته خیر وي. او کېدای سي چي تاسي یو شی ښه وبولئ، خو هغه ستاسي لپاره بد وي. (د کارونو په ښه او بد) لوی ښتن پوهیږي، نه تاسي».

دغه راز فرمایي:

﴿وَقَٰتِلُوهُمۡ حَتَّىٰ لَا تَكُونَ فِتۡنَةٞ وَيَكُونَ ٱلدِّينُ كُلُّهُۥ لِلَّهِۚ﴾ [الأنفال: 39].

ژباړه: «ترهغو د دوی سره وجنګېږئ چې شرک له منځه ولاړ سي او دين يوازې د الله لپاره سي».

## د حق او باطل په جګړه کې د لوی ښتن سنت:

د حق او باطل په کشمکش کې د لوی ښتن سنت او کړنلار داده چې سرلوړي او برياليتوب تل د حق د پلويانو وي او سرتيټي او له منځه تلل د باطل او باطل پالو په برخه وي، لکه چې لوی ښتن فرمايي:

﴿وَيَمۡحُ ٱللَّهُ ٱلۡبَٰطِلَ وَيُحِقُّ ٱلۡحَقَّ بِكَلِمَٰتِهِۦٓۚ﴾ [الشورى: 24].

ژباړه: «او الله په خپلو فرمانونو او دلايلو سره باطل له منځه وړي او حق ثابتوي».

زَمَخشري د دغه آيت په تفسير کې وايي: «د لوی ښتن عادت دادی چې په خپلو «کلمو»، يعني د خپلو وحيو په نښانو او يا عملي دخالت باطل پوپنا کوي او کار د حق په ګټه پای ته رسوي. لکه چې فرمايي:

﴿بَلۡ نَقۡذِفُ بِٱلۡحَقِّ عَلَى ٱلۡبَٰطِلِ فَيَدۡمَغُهُۥ فَإِذَا هُوَ زَاهِقٞۚ﴾ [الأنبياء: 18].

ژباړه: «بلکې موږ په حق سره پر باطل واری کوو او دا حق د باطل سر داسي ماتوي او ماغزه يې داسي ورپاش پاش کوي چې ګورې يې بيا محو سوی وي»[۱].

د امام رازي په تفسير کبير کې هم د پورتني آيت په هکله راغلي

۱- تفسير زمخشری، 4 / 222.

دي: «د دې آیت معنا داده چې د باطل باطلول او د حق ثابتول د لوی څښتن عادت او سنت دی»[۱].

لوی څښتن په بل آیت کې فرمايي:

﴿إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُصۡلِحُ عَمَلَ ٱلۡمُفۡسِدِينَ ٨١﴾ [یونس: 81].

ژباړه: «یقین دی چې الله د مفسدانو کار نه سموي».

د لوی څښتن د دې وینا په تفسیر کې راغلي دي: «دغه آیت د حق او باطل او سمون او ورانۍ په جګړه کې عامه(کلي) قاعده ده چې د لوی څښتن د سنت بیانوونکې ده. تر دې قاعده لاندې د فرعون د جادوګرانو سحر هم راځي، ځکه چې د هغو جادو هم یو ډول باطل او فاسد کار ګڼل کیږي. لنډه دا چې لوی څښتن د مفسدانو کار هیڅ نه سموي»[۲].

زمخشري هم د پورتني آیت په تفسیر کې لیکي: «یعني د دوی کار ته ټینګښت او دوام نه ورکوي، بلکې د ماتې او ورانۍ سره یې مخامخ کوي»[۳].

آلوسي د دغه آیت په تفسیر کې وايي: «د مفسدانو د کار له نه سمون څخه مطلب دادی چې د دوی کار دوام نه کوي او له الهي تایید څخه نه دی برخمن. یعني لوی څښتن د مفسدانو کار ته ټینګښت او دوام نه ورکوي. بلکې هغه له منځه وړي یا د هغه ملاتړ او تایید نه کوي، بلکې بطلان یې څرګندوي پوپنا کوي یې»[٤].

---

۱- تفسیر رازی، 27 / 168.

۲- تفسیر المنار، 11 / 468.

۳- تفسیر زمخشری 2 / 4 – 263.

٤- تفسیر آلوسی، 11 / 167.

## د مسلمانانو د مرستي په اړه د لوی څښتن سنت تخلف نه مومي:

د مومنانو د ملاتړ په هکله د لوی څښتن سنت ته هیڅکله تخلف نه پېښیږي. ځکه لوی څښتن چي {أصدق القائلين} ذات دی په دې هکله پخپله یادوني کړي دي. لکه چي موږ به په قرآني دلایلو دغه خبره په لاندي ډول څرګنده کړو:

ځیني هغه آیتونه چي د مومنانو د ملاتړ په هکله اشارې لري:

(الف) لوی څښتن فرمایي:

﴿وَلَوْ قَٰتَلَكُمُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَوَلَّوُاْ ٱلْأَدْبَٰرَ ثُمَّ لَا يَجِدُونَ وَلِيًّا وَلَا نَصِيرًا ﴿٢٢﴾ سُنَّةَ ٱللَّهِ ٱلَّتِي قَدْ خَلَتْ مِن قَبْلُ ۖ وَلَن تَجِدَ لِسُنَّةِ ٱللَّهِ تَبْدِيلًا ﴿٢٣﴾﴾ [الفتح: 22-23].

ژباړه: «که دغه کافران ستاسي سره جنګېدلي وای، نو هرومرو به یې شا اړولې وای او هیڅ ملاتړ او مرستیال به یې نه وای پیدا کړی. دا د الله کړنلار ده چي له پخوا څخه را روانه ده او ته به د الله په کړنلار کي هیڅ بدلون ونه مومې».

قرطبي د ﴿سُنَّةَ ٱللَّهِ ٱلَّتِي قَدْ خَلَتْ مِن قَبْلُ ۖ﴾ په تفسیر کي وایي: «د لوی څښتن پخوانۍ کړنلار او عادت د خپلو دوستانو مرسته ده د دوی پر دښمنانو باندي»[(١)].

ابن کثیر په دې اړه لیکي: «په نړۍ کي د لوی څښتن دا عادت او کړنلار ده چي کله کفر او ایمان په کوم برخلیک ټاکونکي ډګر کي سره مخامخ سوي وي، نو د کفر په وړاندي د ایمان ننګه او ملاتړ کوي، حق سرلوړی او باطل مات او سرټیټی کړي، لکه چي د بدر په

١- تفسیر قرطبی، 16 / 280.

ورځ يې هم دغسي وکړه[۱].

(ب) دغه راز لوى څښتن فرمايي:

﴿وَلَقَدْ كُذِّبَتْ رُسُلٌ مِّن قَبْلِكَ فَصَبَرُواْ عَلَىٰ مَا كُذِّبُواْ وَأُوذُواْ حَتَّىٰٓ أَتَىٰهُمْ نَصْرُنَاۚ وَلَا مُبَدِّلَ لِكَلِمَٰتِ ٱللَّهِۚ﴾ [الأنعام: 34].

ژباړه: «تر تا دمخه هم ډېر پيغمبران دروغجن ګڼل سوي دي، خو هغو پر هغه دروغجن ګڼلو او پر هغو کړاوونو چي وروړسول سول صبر وکړ، تر دې چي هغو ته زموږ مرسته ورسېده او د الله خبري (مقررات) هم بدلون نه منونکي دي».

د دې آيت په تفسير کي راغلي دي چي د لوى څښتن د بدلون نه منونکو خبرو (مقرراتو) څخه موخه په دنيا او آخرت کي له مومنانو څخه د غوڅ ملاتړ په هکله د هغه ازلي ژمنه ده. لکه چي فرمايي:

﴿وَلَقَدْ سَبَقَتْ كَلِمَتُنَا لِعِبَادِنَا ٱلْمُرْسَلِينَ ۝١٧١ إِنَّهُمْ لَهُمُ ٱلْمَنصُورُونَ ۝١٧٢ وَإِنَّ جُندَنَا لَهُمُ ٱلْغَٰلِبُونَ ۝١٧٣﴾ [الصافات: 171-173].

ژباړه: «زموږ د لېږلو سوو بنده ګانو په اړه زموږ ازلي ژمنه داده چي په يقيني ډول به د هغو سره مرسته وسي او همدا زموږ لښکر به هرومرو لاسبرى سي».

(ج) د زمخشري په تفسير کي د دغو آيتونو په هکله راغلي دي: له ﴿كَلِمَتُنَا﴾ څخه موخه په دې دنيا کي په شخړو او جګړو کي او په هغه دنيا کي د مومنانو پر دښمنانو باندي د دوى لوړتيا او برى دى.

(د) لوى څښتن په بل ځاى کي فرمايي:

﴿كَتَبَ ٱللَّهُ لَأَغْلِبَنَّ أَنَا۠ وَرُسُلِىٓۚ إِنَّ ٱللَّهَ قَوِىٌّ عَزِيزٌ ۝٢١﴾ [المجادلة: 21].

---

۱- تفسير ابن کثير، 4 / 192.

ژباړه: «الله ليکلي دي (مقرره کړې يې ده او حکم يې کړی دی) چي زه او زما پيغمبران به هرومرو لاسبري سو. هو، واقعيت دادی چي الله لاسبری او زورور دی».

د دې آيت په تفسير کي راغلي دي: «لوی څښتن حکم کړی دی او په خپل ازلي او لومړني کتاب او د تخلف نه منونکو غوښتو او بدلون نه منونکو مقدراتو په ليست کي يې ټاکلې ده چي په دنيا او آخرت کي سرلوړي او کاميابي د ده، د ده د کتاب او د ده د رسولانو او مومنو بنده ګانو ده»[١].

(هـ) بيا هم لوی څښتن په دې هکله فرمايي:

﴿إِنَّا لَنَنصُرُ رُسُلَنَا وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا وَيَوۡمَ يَقُومُ ٱلۡأَشۡهَٰدُ ٥١﴾ [المؤمن:51].

ژباړه: «باور ولرئ چي موږ د خپلو پيغمبرانو او مومنانو مرسته هرومرو د دې دنيا په ژوند کي هم کوو او په هغه ورځ کي به يې هم وکړو چي شاهدان ودريږي».

ابن کثير د دې آيت په تفسير کي ليکي: «د لوی څښتن قانون او سنت په پخوا او اوس کي دادی چي په دنيا کي د خپلو مومنو بنده ګانو ننګه (دفاع) او مرسته کوي او د مخالفانو د زورونو او کړونو په وړاندي يې سرلوړي کوي او سترګي يې ور روښاني کوي.

سدي وايي: لوی څښتن هيڅ داسي پيغمبر د هغه قوم ته نه دی ليږلی، يا يې د مومنانو داسي يوه ډله چي د حق لور ته بلنه کوي نه ده را استولې چي د خپل ولس په لاس دي وژل سوي وي، خو بيا دې

---

١- تفسير ابن کثير، 4 / 229.

داسي ځوک نـه وي را اسـتولي چـي د دوی د ارمـانونو او لاري دفـاع دې نه وي کړې او د هغو له زوروونکو او قاتلانو څخـه دې د هغـو د وينو غچ نه وي اخيستی»[١].

د دې خبري معنا داده چي د حق خاوندان که څه هم پـه ظـاهره د باطل د خاوندانو مغلوب وي او د هغـو پـر لاس وژل کيـږي، خـو پـه عين حال کي موفق او بريالي دي. ځکه وروستی بری او غلبه کـه څـه هم څه مهال وروسته وي، د مومنانو ده. لکه چي داسي ډلي به رامنځ ته سي چي د حق پالونکو غچ له باطل پـالو څخـه واخلـي. چـي دا د باطل د خاوندانوماته او د حق او حق پالونکو بری دی.

(و) بالاخره لوی څښتن فرمايي:

﴿وَكَانَ حَقًّا عَلَيْنَا نَصْرُ ٱلْمُؤْمِنِينَ ۝٤٧﴾ [الروم: 47].

ژباړه: «او پر موږ د مومنانو مرسته لازمه ده».

د دې آيت په تفسير کي آلوسي وايي: «دا آيت لـه هغـه ځايـه چـي مومنان د حق خاوندان بـولي او لـوی څښـتن د دوی ملاتـړی معرفـي کوي او بيانوي چي د مسلمانانو د دفاع لپاره له تېـري کوونکـو څخـه غـچ اخيسـتنه تـر سـره کيـږي، نـو دا د مسـلمانانو د ويـاړ او عـزت د زياتوب لپاره دي.

د آيت ظاهر هم داښيي چي دغه نصرت په دې دنيا کي او د ټولـو مومنانو لپاره دی. او د هغو مومنانو په هکله هم دی چي تر پيغمبرانو وروسته اوسي»[٢].

---

١- تفسير ابن کثير، 4 / 83 و 84.

٢- تفسير آلوسی، 21 / 52.

## کله کله الهي ملاتړ د ستر بري د ترلاسه کېدو لپاره ځنډېږي:

بايد وپوهيږو چي د مومنانو د ملاتړ او بري په هکله د الهي کړنلاري عملي کېده کله کله ځنډيږي. دا له دې امله وي چي لوی ځښتن دوی ته د ستر، بشپړ، پايښتي او په ژوندانه او عامو خلکو کي د ډېر اغيز لرونکي برياليتوب رامنځ ته کېده په پام کي لري. نو يې د دې لپاره ځنډوي چي د برياليتوب د ګټي اخيستني وړ شرايط برابر سي او هم په مومنانو کي له هغه څخه د ګټي اخيستني وړتيا مونده سي.

بايد وپوهيږو چي د مومنانو د ملاتړ او بري په هکله د الهي کړنلاري عملي کېده کله کله د دې لپاره ځنډيږي چي د لوی ځښتن لخوا چي د مومنانو لپاره کوم ستر او پراخ موفقيت او دوامداره او ښه بری په پام کي نيول سوی وی، د هغه لپاره د ګټي اخيستني وړ شرايط برابر سي او په مومنانو کي له هغه څخه د ګټي اخيستني او زغملو وړتيا اواستحقاق مونده سي. د بېلګې په توګه د رسول اللهﷺ برياليتوب سره د دې چي د مومنانو ملاتړ هم ورسره وو، په يوه شپه يا يوه ورځ ان په يوه کال کي ترلاسه نه سو، بلکي د هغه د نبوت ډېر وخت يې ونيو.

لکه چي دغه موفقيت د قريشو ترماتي او د مکې مکرمې تر فتحي وروسته په اتم هجري کال ترلاسه سو. يعني: د حضرت پيغمبرﷺ تر وفات دوه کاله دمخه وو. چي تر دې بري وروسته خلک ډلي ډلي د لوی ځښتن په سپېځلي دين مشرف سول. او لوی ځښتن په دې هکله دغه سوره راواستول:

﴿إِذَا جَآءَ نَصۡرُ ٱللَّهِ وَٱلۡفَتۡحُ ۝١ وَرَأَيۡتَ ٱلنَّاسَ يَدۡخُلُونَ فِي دِينِ ٱللَّهِ

أَفۡوَاجٗا ۝٢ فَسَبِّحۡ بِحَمۡدِ رَبِّكَ وَٱسۡتَغۡفِرۡهُۚ إِنَّهُۥ كَانَ تَوَّابَۢا ۝٣﴾ [سورة النصر].

ژباړه: «کله چي د الله مرسته راسي او برى درپه برخه سي او ته وګورې چي خلک ډلي ډلي د الله دين مني، نو د خپل رب د ثنا ستايني سره د هغه تسبيح وکړه او له هغه څخه بخښنه وغواړه، بې شکه هغه ستر توبه قبلوونکی دی».

زمخشري د دې سورې په تفسير کي وايي: «حضرت رسول اکرمﷺ پرعربو يا قريشو او د مکې پر فتح برى وموند. د مکې فتح د اتم هجري کال د روژې پر اتمه وه. په دې فتح کي د رسولﷺ سره لسو زرو تنو مهاجرو، انصارو او د عربو طوايفو ملګرتيا کول. د مکي تر فتحي وروسته ډلي ډلي خلک په اسلام مشرفېدل. دمخه به يوه يوه يا دوو دوو تنو اسلام راوړ، خو اوس به يوې درستي قبيلې ايمان راوی»[۱].

## کله هم مومنان تر بري د مخه د ستونزو او د دښمن د غلبې سره مخامخ کيږي:

د لوی څښتن د سنتو سره سم مومنانو ته د هغه ملاتړ د باطل پالو سره په جګړه کي د هغو په سترو قربانيو او زياتو منډو تړړو اړه لـري. نو طبيعي ده چي په دې توګه مسلمانانو ته د باطل پالو لخوا ستونزي او کړاوونـه متوجـه کيـږي او ان کلـه ناکلـه مـاتي ور اوړي. چـي دا د مومنانو د نصرت د الهي قانون سره څه تعارض او منافـات نـه لـري. ځکه چي اعتبار پايلو تـه دی. او تـل پـه پايلـه کي وروسـتي او اصـلي ګټونکي مومنان وي. دا چي پر باطل پالو باندي تر غـوڅ بـري دمخـه

۱- تفسير الكشاف، 4 / 810 او 811.

مومنـان د سـتونزو سـره مخـامخ کيـږي، پـه دې کـي د لـوی څښـتن حکمـت دی. دا داسـي حقيقـت دی چـي قـرآن کـريم بيـان کـړی او مفسرينو اشاره ورته کړې ده. لوی څښتن په دې اړه فرمايي:

﴿إِن يَمۡسَسۡكُمۡ قَرۡحٞ فَقَدۡ مَسَّ ٱلۡقَوۡمَ قَرۡحٞ مِّثۡلُهُۥۚ وَتِلۡكَ ٱلۡأَيَّامُ نُدَاوِلُهَا بَيۡنَ ٱلنَّاسِ وَلِيَعۡلَمَ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَيَتَّخِذَ مِنكُمۡ شُهَدَآءَۗ وَٱللَّهُ لَا يُحِبُّ ٱلظَّٰلِمِينَ ۝١٤٠ وَلِيُمَحِّصَ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَيَمۡحَقَ ٱلۡكَٰفِرِينَ ۝١٤١﴾ [آل عمران: 140-141].

ژباړه: «اوس که تاسي ټپي سوي ياست، نو تردې دمخه ستاسي دښمنه ډله هم دغسي ټپيان سوي دي. دا د زمانې خوږې او ترخې دي چي موږ يې د خلکو ترمنځ اړوو را اړوو. پر تاسي (د احد د جګړې د ماتي) دغه پړاو ځکه راوستل سو چي الله د ايمان څښتنان څرګند کړي او له تاسي څخه ځينو ته د شهادت درجه ورکړي. او الله ظالمان نه خوښوي. او هغه په دې ازموينه سره د مومنانو پاکول او سپېڅلي کول او د کافرانو ځپل غوښتل».

لوی څښتن په دې توګه څرګنـده کـړه چـي مومنـان بايـد د دښـمن سره په جګړه او ډغري وهلو کي د خوږېدو او ټپي کېدو لـه املـه لـه ځانه بې همتي او د دښمن سره د جګړې د روحيې ضعف ونه ښيي. ځکه لکه څنګه چي مومنانو ته دغسي تکليفونه رسېدلي دي، د مخـه د دوی دښمنانو تـه هـم رسـېدلي وه. او د دوی دښـمنان، سـره د دې چي پر باطلو جنګيږي او ناوړه عاقبت هـم ورتـه ګـوري، د ټپونـو پـه سبب له جګړې څخه پر شا نه سول. نـو تاسـي چـي د حـق خاونـدان هم ياست بيخي بايد د باطل پال دښمن سره په جګړه او ډغري وهلو

کي سستي ونه ښیاست[۱].

او د لوی ښښتن د دې قول: ﴿وَتِلۡكَ ٱلۡأَيَّامُ نُدَاوِلُهَا بَيۡنَ ٱلنَّاسِ﴾ مفهوم دادی چي که څه هم د کار پایلي ستاسي په ګټه دي اما کله ناکله د ځینو مصلحتونو او حکمتونو له مخي دښمنان پر تاسي مسلطوو، مثلاً د رشتینو مومنانو د پېژندګلوۍ یا له تاسي څخه د ځینو سرتېرو او فدایانو د غوره کولو چي د باطل پالو جګړه مارو سره په جهاد کي د شهادت لوړي مرتبې ته ورسیږي یا د دین سره د مومنانو د میني او علاقې د کچي د معلوملو او له نیمګړتیاوو څخه د هغو د سپېڅلي کولو یا د کفارو د له منځه وړلو په مقصد کله کله دغسي چاري ترسره کوو. چي دا کارونه باید د حکیمانه تدبیر ډول ډول بڼي وبلل سي چي پر مومنانو باندي د هغو د دښمنانو د غالبه کېدو تر شا پروت دی[۲].

له ﴿ٱلۡأَيَّامُ﴾ څخه په دغه آیت شریف کي موخه د بري وختونه دي او د مسلمانانو او د هغو د دښمنانو په منځ کي د هغو له ګرځېدو څخه مطلب د بریالیتوب لاس پرلاس کېدل دي، چي یوځل د مومنانو په برخه کیږي او بله پلا د هغو د دښمنانو په برخه کیږي. چي د بري دا لاس پر لاس کېدل د باطل پالو سره د حق د خاوندانو په جګړه کي د لوی ښښتن له سننو څخه یو سنت باله سي. نو دا څه د تعجب خبره نه ده چي د اصلي او رواني جګړې په بهیر کي چي په ماهیت امر کي لا پای ته رسېدلې نه وي یو ځل بری د باطل پالو په

۱- تفسیر رازی، 9 / 14.

۲- تفسیر ابن کثیر، 2 / 208 او تفسیر رازی، 9 / 14.

برخه سي او بل ځل د حق پالو. ځکه د کوم څه تضمین او تاکید چې د حق د خاوندانو لپاره سوی دی او څه ژمنه چې ورسره سوې ده هغه د وروستي او نهایي بري ده او اعتبار پایلو ته دی[۱].

خو موږ باید وپوهېږو چې په حقیقت کې د بري لاس پر لاس کېدل د دواړو خواوو د کړنو له مخې وي. د بریالیتوب خوږ خوند به یوازې هغه کسان څکي چې د بریالیتوب عوامل وپېژني او بیا یې په ډېره ښه توګه په کار واچوي. نو چې خبره دغسې ده او د بریالیتوب ناوې هله په غېږ کې نیول کېږي چې عملي لارې چارې او اسباب ورته برابر کړو. یعني: یوموټې توب او رشتینی یو والی، ټینګار او ثبات او روغ فکر او نظر او ځواکمن هوډ او عزم ولرو او هغه ځواکونه را غونډ او چمتو کړو چې په وس مو وي، نو باید مسلمانان د دغو اعمالو او داسې نورو هغو چارو چې د غلبې او بري له لاملونو شمېرل کېږي، د ترسره کولو په هکله وار د مخه کړې، څو مهال د دوی په ګټه وګرځي، نه د دوی د دښمن په ګټه[۲].

لوی څښتن فرمایي:

﴿وَلَقَدۡ سَبَقَتۡ كَلِمَتُنَا لِعِبَادِنَا ٱلۡمُرۡسَلِينَ ١٧١ إِنَّهُمۡ لَهُمُ ٱلۡمَنصُورُونَ ١٧٢ وَإِنَّ جُندَنَا لَهُمُ ٱلۡغَٰلِبُونَ ١٧٣﴾ [الصافات: 171-173].

ژباړه: «د خپلو لېږلو سوو بنده ګانو سره موږ لا پخوا ژمنه کړې ده چې په یقیني ډول به د هغو سره مرسته وسي او همدا زموږ لښکر به لاسبری سي».

---

۱- تفسیر المنار، 4 / 147.

۲- تفسیر المنار، 4 / 148.

د دې آيت په تفسير کي راغلي دي چي: د لوی څښتن «کلمه» يا ازلي ژمنه او وعده داده چي مومنان به پر دښمنانو باندي د دنيوي جګړو په ډګر کي، لکه په فکري جګړه، او وسله والو نښتو کي لوړ او لاسبري کيږي او همدا راز به په آخرت کي هم پر مخالفانو باندي لوړتيا ولري.

البته داسي بايد ونه ګڼل سي چي په ځينو مواردو کي د مسلمانانو ظاهري ماته د غلبې او نصرت په هکله د الهي سننو په نقض او نه رشتيا کېدو تعبير سي. ځکه وروستی بری هرو مرو د دوی او وروستيو مسلمانانو دی[۱].

د قرآن کريم په بل ځای کي فرمايي:

﴿إِنَّا لَنَنصُرُ رُسُلَنَا وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا وَيَوۡمَ يَقُومُ ٱلۡأَشۡهَٰدُ ٥١﴾ [المؤمن:51].

ژباړه: «باور ولرئ چي موږ د خپلو پيغمبرانو او مومنانو مرسته هرومرو د دې دنيا په ژوند کي هم کوو او په هغه ورځ به يې هم وکړو چي شاهدي ورکوونکي ولاړ وي».

زمخشري د دې آيت په تفسير کي وايي: «لوی څښتن دوی ته د دښمنانو په وړاندي په دلايلو او غلبې ورکولو سره لوړتيا ور په برخه کوي. که څه هم د دنيا په ځينو ډګرونو او مهالونو کي د الهي ازميښت په توګه مغلوبيږي، خو د ميدان وروستي وړونکي به هرومرو دوی وي»[۲].

۱- تفسير زمخشری، 4 / 67.

۲- تفسير زمخشری، 4 / 172.

آلوسي هم د دې آیت په تفسیر کې وایي: «مونږ خپلو پیغمبرانو او د هغو پیروانو ته د دنیا په ژوندانه کې په دلایلو او بري او له کافرانو څخه په غچ اخیستنه مرسته ورکوو او که کله ناکله د ازمېښت د سنتو په غوښتنه کفارو ته ظاهري برى ورکول کېږي د مسلمانانو د لوړتیا پر اصل کومه بده اغېزه نه پرېوزي. ځکه چې د ګټنې او بایلنې ملاک د چارو پایلې او په غالبه توګه په یوه کار کې د بریالیتوب د کچې لوړوالى باله سي»[1].

١- تفسیر آلوسی، 24 / 76.

## د بري لاملونه او خنډونه او موانع يې

د باطل د خاوندانو په وړاندي د مسلمانانو د ملاتړ او مرستي الهي سنت به هغه مهال د خلکو د ژوندانه په متن کي تحقق ومومي چي مسلمانان د اسلام د دين د نسخې پر بنسټ او د لوی ښتن د فرمانونو له مخي د پرمختګ او بریالیتوب فردي او ټولنيزي لاري چاري برابري کړي. خپل ځانونه او ټولنه يې د سرلوړۍ له خنډونو او موانعو څخه پاکه کړې وي او د ناکامۍ او د نصرت د منع کېدو عوامل يې له ځانونو او ټولني څخه ليري کړي وي.

اوس نو د برياليتوب دغه لاملونه چي مومنانو ته يې برابرول او ترلاسه کول اړين دي او هغه موانع چي ښايي له خپل شخصيت او خپلي ټولني څخه يې ليري کړي کوم دي؟ د غه لاملونه او خنډونه موږ په لاندني بحث کي بيانوو. لومړی به د برياليتوب د مخکنيو شرايطو او عواملو په ښوولو پيل کړو.

### لومړی: ايمان

د برياليتوب له شرطونو څخه يو هم «ايمان» دی کوم چي د مسلمانانو د نصرت الهي سنت د هغه په اړه رامنځ ته سوی دی او لوی ښتن هم هغه په قرآن کريم کي موږ ته را پېژندلی دی.

لوی ښتن چي تر ټولو ستر رشتيا ويونکی دی، دې حقيقت ته په اشاره سره فرمايي:

﴿وَكَانَ حَقًّا عَلَيْنَا نَصْرُ ٱلْمُؤْمِنِينَ ۝٤٧﴾ [الروم: 47].

ژباړه: «او پر موږ باندي د مومنانو مرسته لازمه ده».

د تفسیر المنار لیکوال د دې آیت په هکله وايي: «دا آیت پر دې باندي څرګند دلیل دی چي دغه الهي ملاتړ او بریالیتوب د ایمان محصول دی»[۱].

آلوسي هم وايي: «د دې آیت ظاهر دادی چي دغه ملاتړ په دې دنیا کي دی او دا د ټولو مسلمانانو لپاره عام دی او د هغو مسلمانانو لپاره هم دی چي تر پیغمبرانو وروسته دي[۲].

په دې اړه لوی څښتن فرمايي:

﴿إِن تَسۡتَفۡتِحُواْ فَقَدۡ جَآءَكُمُ ٱلۡفَتۡحُۖ وَإِن تَنتَهُواْ فَهُوَ خَيۡرٞ لَّكُمۡۖ وَإِن تَعُودُواْ نَعُدۡ وَلَن تُغۡنِيَ عَنكُمۡ فِئَتُكُمۡ شَيۡـٔٗا وَلَوۡ كَثُرَتۡ وَأَنَّ ٱللَّهَ مَعَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ١٩﴾ [الأنفال: 19].

ژباړه: «(ای کافرانو) که تاسي (د حق دین) بریالیتوب غوښت نو دغه دی د حق دین بریالیتوب مو مخي ته راغی. (نو پر هغه ایمان راوړئ). او که (د خدای او رسول له دښمنۍ او مخالفت څخه) راوګرځئ نو دا ستاسي لپاره ډېره ښه ده. او که بیر ته (دښمنۍ، مخالفت او نافرمانۍ ته) وروګرځئ، موږ به هم (ستاسي پر ضد) هماغي سزا تکرارولو ته ور ګرځو او ستاسي ډله که هر څوني زیاته هم وي (د لوی څښتن له عذابه) به څه دفع نه کړای سي او پوه سئ چي الله د مومنانو ملګری دی».

قرطبي د دې آیت په توضیح کي ویلي دي: «د دې آیت پیغام دادی چي هغه څوک یا ډله چي د لوی څښتن ملاتړ ورسره ملګری وی هیڅوک یې نه سي پر ګونډو کولای، که یې څه هم شمېره زښته

---

۱- تفسیر المنار، 7 / 38.

۲- تفسیر آلوسی، 21 / 52.

زياته وي»[۱].

څرګنده ده چي د مسلمانانو سره د لوی څښتن دغه «ملګرتيا» په دوی پوري ځانګړې ده او د دوی د ايمان مېوه او ثمره ده. نو دغه مېوه د دوی د ايمان د کچي، د هغه د پوخوالي او ژوروالي او د هغو په عواطفو او کړنو کي د هغه د څرګندېدو په تناسب ده. او شک نسته چي صحابهٔ کرامو رضي الله عنهم چي په دغه آيت کي په «مومنينو» او «د لوی څښتن له ملګرتيا څخه» په برخمنو ور ته ويل سوي دي، د ايمان د ژوروالي او پراختيا او د دين منلو د کچي د لوړ والي له امله له دې امتياز، يعني: «د مومنانو سره د لوی څښتن د ځانګړي ملګرتيا» څخه ستره ونده او برخه درلوده. او له دې امله وو چي هم د پيغمبر ﷺ په ژوند کي او هم د هغه ﷺ تر وفات وروسته د دوی د ځواک او شمېر د کمښت او د دوی د دښمنانو د ځواک او شمېر د زياتوب سره سره تل د لوی څښتن له مرستي او نصرت څخه برخمن کېدل. لنډه دا چي مومنانو ته د «لوی څښتن ملګرتيا» د مرستي او ملاتړ له لاري او ورپسې هغو ته په ولکه او غلبه ورکولو سره په دقيقه توګه د هغو د ايمان د کچي په تناسب او د هغو په شخصيت کي د هغه د اغېز او رسوخ د درجې له مخي ور په برخه کېږي.

**د مسلمانانو اوسنی حال:**

د مسلمانانو سره د لوی څښتن د مرستي هغه سنت چي هغه جل جلاله يې په قرآن کريم کي په هکله څرګندوني کړي دي تل تر تله پر خپل حال پاته دی. دا يو داسي حتمي او قطعي واقعيت دی چي په

۱- تفسير قرطبی، 7 / 387.

رشتينولي کي يې هيڅ شک او ترديد نسته. د مسلمانانو اوسني ناوړه شرايط او دا چي نن مهال مسلمانان واکمن او پر خپلو دښمنانو باندي بريالي نه دي، بلکي د خپلو دښمنانو مقهور او مغلوب او د هغو تر ولکه لاندي دي، د دې قاعدې پر صحت باندي هيڅ خدشه نه واردوي. ځکه چي دغه سنت د «مسلمانانو په ملاتړ کي» څرګنديږي. خو مسلمانان هغو ته نه ويل کيږي چي له خپله ځانه د جوړو کړو معيارونو او د خپلو توهماتو او هوسونو له مخي ځانونه مسلمانان ګڼي. بلکي مسلمان هغه دی چي د هغو ديني ارزښتونو او معيارونوله مخي چي په قرآن او د رسولﷺ په سنتو کي بيان سوي دي،«مومن» او حق پالونکی وشمېرل سي. پر دې بنسټ پر باطل پالو باندي د اوسنيو مسلمانانو نه برياليتوب د لوی څښتن د سنتو نقض نه، بلکي له دې امله دی چي هغه رشتينی او مطلوب ايمان او د دغه ايمان اخلاقي او عملي لوازم د دوی په شخصيت کي نه دي متحقق سوي، ځکه نو پايله دا سوې ده چي دوی د لوی څښتن د هغه نصرت چي د مسلمانانو سره يې ژمنه سوې ده، استحقاق او وړتيا له لاسه ورکړې ده. نو له دې امله د نن مهال مسلمانان اړ او موظف دي چي په خپلو ګرېوانو کي وګوري، خپل وضعيت وڅېړي، خپل ځانونه او خپل اوصاف، اعمال او اوسنی مسير او تګ لوری د ايمان پر مفاهيمو او لوازمو عرض کړي. د ايماني معيارونو پر بنسټ د هغو جاج واخلي، څو هغه نيمګړتياوي چي په دوی کي موجودي دي معلومي کړي او بيا د خپلو دننيو او باندنيو نيمګړتياوو او ناخوالو په درکولو او تشخيصولو سره د هغو د ليري کولو او سمولو او د خپل فردي او ټولنيز ژوندانه په متن کي د ايماني ارزښتونو د پلي کولو او

عملي کولو په لټه کي سي. څو له مومنانو څخه د ملاتړ الهي تضمين د هغو په هکله مصداق وومومي او دوی د دې قرآني ژمني د تر سره کېدو په اورشو کي ودريږي چي:

﴿وَكَانَ حَقًّا عَلَيْنَا نَصْرُ ٱلْمُؤْمِنِينَ ۝٤٧﴾ [الروم: 47].

**ايمان او د برياليتوب مادي عوامل:**

څرګنده ده چي يوازي ايمان درلودل موږ د برياليتوب د مادي عواملو له اړتيا څخه نه ژغوري. موږ د ايمان تر څنګ د بري ځينو نورو عواملو ته هم اړتيا لرو. د مثال په ډول: موږ ډېر ښه سمبال پوځ او د جګړې نورو لوازمو او مهماتو او پر وسله وال جهاد سربېره په نورو برخو کي د برياليتوب نورو وسايلو او په دې برخو کي د باطل پالو سره د رقابت وسايلو ته هم سخته اړتيا لرو. له دې امله دی چي لوی څښتن موږ مسلمانان د جګړې د مادي وسايلو په چمتو کولو ګومارلي يو، لکه چي فرمايي:

﴿وَأَعِدُّواْ لَهُم مَّا ٱسْتَطَعْتُم مِّن قُوَّةٍ وَمِن رِّبَاطِ ٱلْخَيْلِ...﴾.

دا ځکه چي اسلام يو پر واقعيت ولاړ دين دی او د ايمان پر ځواک باندي د ټينګار او د برياليتوب په لاس ته راوړلو کي د هغه د اغېز ترڅنګ د مادي عواملو د کاروركولو اواغېزمني ونډې څخه هم غفلت نه کوي. د ايمان دغه ځواک يا د برياليتوب په لاسته راوړلو کي د هغه دغه ونډه خامخا ټاکلې پوله لري کومه چي لوی څښتن بيان کړې ده. هسي نه چي موږ د چارو په هکله له حده په تېري کولو سره ځانونه وغولوو، بلکي بايد د هر شي ځای او رښتيانی ارزښت پرته له افراطه وټاکو، څو په ارزونو او اټکلونو کي په توهماتو او

تېروتنو اخته نه سو او په پايله کي پر دښمنانو باندي له ناکامۍ څخه وژغورل سو.

لاندي آيتونه پر پورتنو خبرو دلالت کوي:

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ حَرِّضِ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ عَلَى ٱلۡقِتَالِۚ إِن يَكُن مِّنكُمۡ عِشۡرُونَ صَٰبِرُونَ يَغۡلِبُواْ مِاْئَتَيۡنِۚ وَإِن يَكُن مِّنكُم مِّاْئَةٞ يَغۡلِبُوٓاْ أَلۡفٗا مِّنَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ بِأَنَّهُمۡ قَوۡمٞ لَّا يَفۡقَهُونَ ٦٥ ٱلۡـَٰٔنَ خَفَّفَ ٱللَّهُ عَنكُمۡ وَعَلِمَ أَنَّ فِيكُمۡ ضَعۡفٗاۚ فَإِن يَكُن مِّنكُم مِّاْئَةٞ صَابِرَةٞ يَغۡلِبُواْ مِاْئَتَيۡنِۚ وَإِن يَكُن مِّنكُمۡ أَلۡفٞ يَغۡلِبُوٓاْ أَلۡفَيۡنِ بِإِذۡنِ ٱللَّهِۗ وَٱللَّهُ مَعَ ٱلصَّٰبِرِينَ ٦٦﴾ [الأنفال: 65-66].

ژباړه: «ای پيغمبره! مسلمانان (د دښمنانو سره) جګړې ته وهڅوه. که له تاسي څخه شل تنه صابران وي نو هغوی به پر دوو سوو تنو لاسبري سي. او که سل تنه داسي وي، نو پر زرو تنو کافرانو به لاسبري سي. ځکه چي هغوی دا سي خلک دي چي (د جګړې د څرنګوالي او موخي او د خپل وروستي برخليک په اړه) پوهه نه لري. ښه نو اوس الله ستاسي پېټی سپک کړ او هغه ته معلومه سوه چي اوس په تاسي کي کمزوري ده. نو که له تاسي څخه سل تنه صابران وي، نو هغوی به پر درو سوو باندي او که زر تنه داسي وي، نو پر دوو زرو باندي به د الله په حکم لاسبري سي او الله د هغو خلکو ملګری دی چي صبر کوونکي دي».

په لومړي آيت باندي د استدلال وجه دا ده چي لوی ښښتن د حضرت پيغمبرﷺ اصحابو ته څرګندوي چي کېدای سي له دوی څخه شل تنه تکړه او زغم لرونکي جنګيالي د دوو سوو تنو کافرانو تمام وي. البته دا تر تخفيف دمخه خبره ده. او لوی ښښتن نه دي ويلي چي کېدای سي شل تنه صابر مومنان پر دوو زرو تنو غالب سي. ځکه که څه هم د زغم لرونکو او صابرو مومنانو ايمان د يو ډول

ځانګړي ځواک او پياوړتيا سر چينه ده، او دغه پياوړتيا په کفارو کې د موجود کفري ځواک په پرتله زياته ده، خو بيا هم بايد دغه ايماني قوت د کفر او کفارو پر ځواک يو ټاکلی حد ولري. لکه چې ټاکلې يې ده چې د ايمان ځواک يو مسلمان تر لسو تنو کافرانو ډېر پياوړی کوي او پر دې بنسټ شل تنه مسلمانان د دوو سوو تنو کافرانو د ماتې وس لري.

اما کله چې د کفارو شمېر زرو تنو ته رسيږي نه د لوی څښتن په ژمنه کې راغلي دي او نه يې په ځرګندونه کې چې شل تنه مومنان به پر دغه شمېر کافرانو غلبه مومي، بلکې له دې څخه خبري سوي دي چې د عادت او دود له مخې په دغسې حالت کې د مسلمانانو شمېر بريالیتوب ته د رسېدو لپاره بسنه نه کوي. د دې معنا داده چې مادي ځواک او جنګي وسايل او له دې جملې څخه د جنګياليو شمېر خپل ځانګړی او انکار نه منونکي وزن او اغېز لري او پر مسلمانانو، عام امت او اسلامي جماعت لازمه ده چې ياد سوی حقيقت په پام کې ونيسي، ځيرنه يې وکړي او د عبرت درس ځني واخلي او د خپل او دښمن ځواک ته دقيق حساب وکړي، داسې چې د دوی ځواک د دوی د دښمن د ځواک سره برابر يا ورنژدې وي. په دې صورت کې به د مسلمانانو پوخ د ايمان د قوت له امله د کفارو پر پوخ تفوق او لوړتيا ولري او د لوی څښتن په مرسته او توفيق به بری د مسلمانانو په برخه وي.

**مادي ځواک له ارواپي (نفسي او روحي) پلوه هم اغېز ښندي:**

دې ټکي ته بايد پام وسي چې مادي ځواک او د افرادو ډېربښت د دواړو خواوو پر روحيه باندې په برابره توګه اغېز ښندي. د بېلګې په

توګه کومه ډله چې د جنګي وسايلو له پلوه تر مقابل لوري ځان مجهز او پياوړی احساسوي، معمولاً د دغه احساس تر اغېزې لاندې وار د مخه کوي او پر دښمن برید پیلوي. لکه چې د دښمن د پوځیانو د لښ شمېر په لیدلو سره مسلمانان زړه ورکیږي او په لوړ همت، زغم، ثبات او پر بري باندې په ډاډمن کېدو سره د کفارو جګړې ته وردانګي او برید پر کوي.

د مادي ځواکونو نور ډولونه، لکه د وسلو ډول او اندازه هم د پوځیانو د شمېر غوندې د احساس د ضعف یا قوت په رامنځ ته کولو کې اغېز لري. دغه حقیقت د ټولنو غړي او دیني ډلې په اوسني پېر کې چې د مادي ځواکونو او امکاناتو عصر دی، دې ته هڅوي چې کوښښ وکړي چې د تجهیزاتو له پلوه تر دښمن پیاوړي وي.

لوی څښتن په قرآن کریم کې د مسلمانو او کافرو جنګیالیو پر روحیاتو باندې د مادي اغېزې په هکله داسې فرمایي:

﴿إِذْ يُرِيكَهُمُ ٱللَّهُ فِى مَنَامِكَ قَلِيلًا ۖ وَلَوْ أَرَىٰكَهُمْ كَثِيرًا لَّفَشِلْتُمْ وَلَتَنَٰزَعْتُمْ فِى ٱلْأَمْرِ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ سَلَّمَ ۗ إِنَّهُۥ عَلِيمٌۢ بِذَاتِ ٱلصُّدُورِ ﴿٤٣﴾ وَإِذْ يُرِيكُمُوهُمْ إِذِ ٱلْتَقَيْتُمْ فِىٓ أَعْيُنِكُمْ قَلِيلًا وَيُقَلِّلُكُمْ فِىٓ أَعْيُنِهِمْ لِيَقْضِىَ ٱللَّهُ أَمْرًا كَانَ مَفْعُولًا ۗ وَإِلَى ٱللَّهِ تُرْجَعُ ٱلْأُمُورُ ﴿٤٤﴾﴾ [الأنفال: 43-44].

ژباړه: «او ای پیغمبره! هغه مهال درپه یاد کړه چې الله دښمنان تاته په خوب کې لږ دروښوول. که یې چیرې د هغو شمېر زیات درښوولی وای، نو تاسې به هرومرو خپل همت بایللی وای او د جګړې په هکله به مو شخړه پیل کړې وای. خو الله تاسې له دې څخه وژغورلاست. په یقیني توګه هغه ان د سینو په راز پوهیږي. او هغه مهال یاد کړئ چې الله هغوی د نښتې په وخت کې ستاسې په نظر لږ دروستل او د هغو په نظر یې تاسې

لښ ور وستلاست، تر څو کوم کار چې کېدونکی وو الله هغه وکړي او په پای کي ټولي چاري د هماغه الله لوري ته ورګرځي».

د دې دوو آيتونو په تفسير کي راغلي دي چي لوی څښتن د بدر په غزا کي تر ښتي څه مهال دمخه پيغمبرﷺ ته د خوب له لاري د کفارو د جنګياليو شمېر لږ وښووی او پيغمبرﷺ هم دغه خوب خپلو يارانو ته ووايه. د دښمنانو دغه لږ شمېر ښوونه د مشرکانو جګړې ته د صحابه وو د زړه ورتيا او خوځېدني او بري ته د هيله مندۍ لامل سوه.

لوی څښتن پيغمبر ته يادونه کوي چي که مي د کافرانو شمېر زيات درښوولی وای مسلمانان پر کفارو باندي د وار د مخه کولو او بريد کولو په هکله د سستۍ او زړه نازړه توب سره مخامخ کېدل او د کفارو سره د جنګېدلو يا نه جنګېدلو پر سر په شخره سره اخته کېدل.

بيا لوی څښتن دا مسئله بيان کړې ده چي د پيغمبرﷺ د خوب د تصديق او د هغه څه چي هغه ويلي د ليدلو لپاره يې د مسلمانانو په سترګو کي د دښمن د جنګياليو شمېر لږ وښووی، څو په جګړه کي د دوی د ډاډ، همت، او ثبات لامل سي.

﴿إِذِ ٱلۡتَقَيۡتُمۡ فِيٓ أَعۡيُنِكُمۡ﴾.

يعني: مومنان يې هم د کفارو په سترګو کي لږ وښوول، څو کفار ښه تياري ونه نيسي او په بې پروايۍ سره د مسلمانانو جګړې ته ورودانګي. نو کله چي جګړه ونښته په ناڅاپي توګه د مسلمانانو د زيات شمېر جنګياليو سره مخامخ سول او په پايله کي ماته او مرګ د

دوی او بری د مسلمانانو په برخه سو[١].

د دې آیتونو او د هغو په تفسیر کي د ویلو سوو مطالبومناسبت او په هغو د استناد وجه داده چي مادي ځواک او تجهیزات - چي دلته د جنګیالیو د شمېر ډېروالی او لږوالی څني مراد دی - له اروایي پلوه جګړې ته د وردانګلو؛ په هغې کي د شهامت ښوولو او د هغې د پایلو په هکله ځانګړې اغېزه لري. ځکه د دښمن د جنګیالیو له لږوالي څخه خبرتیا د برید په هکله د زړه ورتیا، د روحیې د پیاوړتیا او ثبات او بري ته د هیلي د زیاتوب لامل ګرځي. خو د دې په خلاف د دښمن د جګړه مارو د شمېر زیات ګڼل، د جګړې تلو ته ډار او زړه نازړه توب زېږوي او د جګړې په بهیر کي د جنګیالیو د سستۍ لامل ګرځي.

د حق او باطل د جګړې د وسلو ډول او کچه او نور وسایل، په وسله واله جګړه کي وي، که د جهاد په نورو اورشوګانو کي وي هم د جګړو پر روحیاتو او د جګړې پر پایله باندي د اغېز له پلوه کټ مټ د جګړو د شمېر غوندي دي.

## دوهم: له خدای څخه بېره او تقوا

لوی څښتن فرمایي:

﴿إِذۡ تَقُولُ لِلۡمُؤۡمِنِينَ أَلَن يَكۡفِيَكُمۡ أَن يُمِدَّكُمۡ رَبُّكُم بِثَلَٰثَةِ ءَالَٰفٖ مِّنَ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةِ مُنزَلِينَ ١٢٤ بَلَىٰٓۚ إِن تَصۡبِرُواْ وَتَتَّقُواْ وَيَأۡتُوكُم مِّن فَوۡرِهِمۡ هَٰذَا يُمۡدِدۡكُمۡ رَبُّكُم بِخَمۡسَةِ ءَالَٰفٖ مِّنَ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةِ مُسَوِّمِينَ ١٢٥﴾ [آل عمران:

---

١- تفسیر زمخشری، 2 / 224 و 225.

[125-124].

ژباړه: «هغه مهال درياد کړه چې تا مومنانو ته ويل: آيا تاسې ته دا بسنه نه کوي چې الله د درو زرو ملايکو په را ليږلو سره مرسته درسره وکړي؟ هو، که تاسې د زغم په درلودلو له الله څخه په بېره کې کار وکړئ، نو په کومه شېبه کې چې دښمنان يرغل درباندې وکړي، په هماغه شېبه کې به ستاسې رب (د درو زرو نه، بلکې) د پنځو زرو ځانګړو نخښنو لرونکو ملايکو په وسيله مرسته درسره وکړي».

د دې دوو آيتونو په تفسير کې راغلي دي: «په ظاهره په دغو آيتونو کې څرګنده سوې ده چې ملايکې په جګړه کې هغه مهال برخه اخلي چې اړتيا ورته پيدا سي. دا هم کېداى سي چې په جګړه کې دوى ته اړتيا نه وي او يوازې د جګړې په ډګر کې د مجاهدينو د روحيې د تقويې لپاره حاضرې سي. د درو زرو ملايکو حاضرېده هم لوى څښتن په دروخبرو مشروط کړي دي:

1- صبر.

2- تقوا.

3- د کفارو نابېره يرغل»[١].

پر دې بنسټ مومنانو ته د ملايکو مرسته د دوى د تقوا په سبب ده. ځکه چې صبر د دوى د تقوا يوه برخه ده، لکه چې ابن تيميه رحمه الله فرمايي: «تقوا د هغو چارو يو ځاى تر سره کول دي چې لوى څښتن يې امر کړى دى او د هغو کارونو پرېښوول دي چې لوى څښتن منع کړي دي»[٢].

---

١- تفسير رازى، 8 / 228.

٢- مجموع فتاوى ابن تيميه، 8 / 526.

صبر هم له الهي اوامرو څخه دی. له مومنانو څخه د ملایکو ملاتړ هم پر مشرکانو باندې د دوی د بریالیتوب لپاره وو، نو کېدای سي چي تقوا یا له خدایه بېره د مومنانو د نصرت په هکله د لوی څښتن د سنت د تحقق له عواملو څخه وبولو.

**پوځیانو ته په تقوا سره د حضرت عمر رضي الله عنه وصیت:**

په هغه وصیت کي چي حضرت عمر بن خطاب رضي الله عنه سعد بن ابي وقاص او خپلو عراق ته لېږونکو پوځیانو ته کړی دی، داسي راغلي دي:

«زه تا او ستا ملګرو جنګیالیو ته په ټولو احوالو کي په تقوا (له خدایه په بېره) توصیه کوم. ځکه له لویه څښتنه بېره پر دښمن باندي تر ټولو ښه وسیله ده. او په جنګ کي تر ټولو غوره جنګي تدبیر دی. زه تا او ستا ملګرو ته امر کوم چي له ګناه او معصیت څخه پرهېز او ډېره کول ستاسي تر دښمنانو ډېر جدي ونیسئ. ځکه پوځ ته د ګناه خطر د دښمن تر خطر زیات دی. پر دښمنانو باندي د مسلمانانو بری صرف او صرف له دې امله دی چي هغو د خدای له اوامرو سرغړولی دی. او که دغه خبره نه وای موږ دوی نه سوای ماتولای. ځکه نه زموږ د پوځیانو شمېره د هغو سره برابره ده او نه زموږ د جنګي وسایلو کچه. نو که په ګناه او د اخلاقو په ضعف کي هم د دوی سره یو شی سو، هغوی به د نظامي ځواک له پلوه پر موږ لاسبري سي. په دې کي شک نسته چي که په معنوي ښېګڼه پر هغو بریالي نه سو پر ځواک او قوت باندي په تکیه به هیڅکله پر بریالي نه سو. پوه سئ چي ستاسي په لار کي د لوی څښتن څارونکي په تاسي پسې دي او ستاسي له کړو وړو خبرېږي، نو له هغو څخه حیا

وکړئ. او څنګه چي «د لوی ښتن د لاري د مجاهد» د عنوان درلودونکي یاست، نو په ګنهونو او ناوړو کارونو لاسونه مه ککړوئ. په دې زړه مه ښه کوئ چي څنګه چي دښمن تر موږ ډېر بد عملونه کوي، نو که موږ هم بد کارونه وکړو، پر موږ به مسلط نه سي. ځکه داسي ډېر پېښ سوي دي چي پر يوه قوم بانـدي تـر هغه بـدکاره قـوم مسلط سوی دی. لکه چي بني اسرائيل د ناوړو کارونو د ترسره کولو له امله د مجوسو(اور پالو) کفارو تر ولکه لاندي راغله او ښارونه يې د هغو تر واک لاندي سول. د لوی ښتن ژمنه تل ترسره کيږي. لکه څنګه چي له لويه ښتنه پر دښمنانو باندي د بري غوښتنه کوئ، له هغه څخه د تواضع او پر نفس باندي د غلبې غوښتنه هم وکړئ. په دې هکله د لوی ښتن له دربار څخه خپل ځان او تاسي ته د بریالیتوب په هیله یم»[1].

## دریم: د اسلام له دين څخه ننګه او ملاتړ

له نورو هغو عواملو څخه چي د باطل او باطل پالو سره په مبارزه کي له مومنانو څخه د لوی ښتن د ملاتړ د سنت څرګندېدو ته لاري چاري برابروي، يو هم په ټول ځواک سره له اسلام څخه د مسلمانانو ټينګه دفاع او دې چاري ته جدي پاملرنه ده. په دې هکله قرآن کريم داسي فرمايي:

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِن تَنصُرُواْ ٱللَّهَ يَنصُرۡكُمۡ وَيُثَبِّتۡ أَقۡدَامَكُمۡ ۝٧﴾ [محمد: 7].

---

١- ابنُ عبدِ رَبِّه، الْعِقْدُ الْفَرِيدُ،١/١٣٠.

ژباړه: «ای مومنانو! که تاسي د الله (د دین) مرسته وکړئ، نو هغه به هم ستاسي مرسته وکړي او بریالي به مو کړي او قدمونه به مو در ټینګ کړي».

د پورتني آیت تفسیر: ﴿إِن تَنصُرُواْ ٱللَّهَ﴾.

امام فخرالدین رازي په خپل تفسیر الکبیر کي په دې اړه وایي: «د لوی څښتن مرسته له څو لارو کېدای سي: یو داسي چي د لوی څښتن د دین او د لاري مرسته وسي. او بل داسي چي د لوی څښتن د ډلي (حزب) مرسته وسي»[1].

د لوی څښتن د دین نصرت هم دادی چي مسلمان خپل ځان په بشپړه توګه لوی څښتن ته وسپاري، یعني: خپل شخصیت، عواطف، اندونه او کړني په بشپړه توګه په لوی څښتن تعالی پوري وتړي، داسي چي د وجود هیڅ برخه یې د لوی څښتن د منلي او بشپړ حاکمیت او فرمان په وړاندي هیڅ مقاومت ونه کړي. د دې خصلت څرګنده نخښه داده چي د لوی څښتن د شریعت ټولي توصیې په بشپړه توګه ومنل سي.

د لوی څښتن د نصرت وروستی پړاو هم له دې څخه عبارت دی چي: مسلمان په پرله پسې توګه په مځکه کي د لوی څښتن د شریعت د ټینګښت او قایمېدو لپاره هلي ځلي وکړي. داسي چي د خلکو پر ټولو اړیکو باندي دغه شریعت پلی او حاکم سي او هیڅوک د نورو وګړو او خپل چاپیریال سره د خپلو ډول ډول اړیکو په تنظیم کي د شریعت له حکم پرته بل څه ته مراجعه ونه کړي او بې له دې بل څه

١- تفسیر رازی، 28 / 48.

ونه مني.

بله ډېره مهمه مسئله چي د هغې له لاري لوی څښتن ته مرسته ترسره کيږي هغه ده چي امام فخررازي اشاره ورته کړې ده او هغه داده چي د لوی څښتن د ډلي (حزب) مرسته وسي. لکه چي څرګنده ده د لوی څښتن ډله هغه ده چي د هغه مرسته کوي، يعني د هغه د دين ملاتړ کوي يا په مځکه کي اسلامي شريعت، قوانين او ارزښتونه پلي کوي. شک نسته چي د خدای د دين نصرت د انفرادي، جلا جلا او متفرقو هلو ځلو په پرتله د مسلمانانو په ګډو هلوځلو، ډله ييز کار او يو د بل په مرسته په ښه چټکتيا او بشپړه توګه تحقق مومي. نو څنګه چي ګډه همکاري د دين برياليتوب ډېر چټکوي او دغه کاميابي په ښه توګه بشپړوي، نو د لوی څښتن له مرستي او ملاتړ څخه د برخمنتوب وړ او لازم شرايط هم برابروي. ځکه نو موږ ويلای سو چي په هغه اندازه چي مسلمانان د لوی څښتن د دين د ملاتړ، د لوی څښتن په لار کي د جهاد او د جهاد او د دين د کاميابۍ او غوړېدو د وسايلو د برابرولو په هکله کوښښونه کوي، په هغه کچه د الهي سنت پر بنسټ د لوی څښتن له مرستي او مهربانيو څخه برخمن کيږي.

په دې هکله بل آيت دادی:

﴿وَلَيَنصُرَنَّ ٱللَّهُ مَن يَنصُرُهُۥٓۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَقَوِيٌّ عَزِيزٌ ۝٤٠﴾ [الحج: 40].

ژباړه: «او الله به هرو مرو د هغو کسانو سره مرسته وکړي چي د هغه مرسته وکړي، الله ډېر زورور او لاسبری دی».

امام رازي د دې آيت په تفسير کي وايي: «لوی څښتن د هغه چا سره چي په دغه صفت متصف وي، يعني د لوی څښتن مرسته

کوي، د مرستي او بریالیتوب ژمنه کړې ده»[١].

دغه راز زمخشري د دغه آیت په تفسیر کي وایي: «لوی څښتن به هرومرو د هغه چا ملاتړ وکړي چي د لوی څښتن او د هغه د دوستانو مرسته او ملاتړ کوي»[٢].

البته موږ د مخه د لوی څښتن سره د مرستي د څرنګوالي په هکله څرګنده کړه چي په مځکه کي د لوی څښتن د دین د اقامې او ټینګښت لپاره هغه هلي ځلي دي، چي له امله یې د لوی څښتن دین د بشر پر ټولو فعالیتونو او اړیکو واکمن اوسي.

**د الله د دین د مرستي لپاره د ډله ییزو تشکیلاتو رامنځ ته کول:**

د مخه مو وویل چي زمخشري د دې آیت:

﴿وَلَيَنصُرَنَّ ٱللَّهُ مَن يَنصُرُهُۥٓ﴾ په تفسیر کي د لوی څښتن مرسته د لوی څښتن د دین او د هغه د دوستانو په مرسته تفسیر کړې ده. او فخررازی هم د دې آیت ﴿إِن تَنصُرُواْ ٱللَّهَ يَنصُرۡكُمۡ﴾.

یوه معنا د لوی څښتن د ډلي مرسته بللې ده. نو اوس پوښتنه کیږي چي آیا د لوی څښتن د دین مرسته باید په ډله ییزه توګه تر سره سي؟ په بل عبارت: آیا د دې لپاره چي د الله د دین د نصرت شرط متحقق سي، د هغه د دین د مرستي د غوښتنو د ترسره کېدو لپاره، د تنظیم یا جماعت رامنځ ته کېدو او جوړېدو ته اړتیا ده؟ جواب دادی چي له هرمسلمان څخه شرعاً غوښتنه داده چي د خپل وس په کچه د لوی څښتن د دین په ملاتړ د لوی څښتن د قوانینو او

١- تفسیر رازی، 3 / 41.
٢- تفسیر زمخشری، 3 / 160.

احکامو د پلي کولو لپاره هلي ځلي وکړي. چي په دې صورت کي به لوی ښبتن هم د ده د هلو ځلو په تناسب د ده ملاتړ وکړي. خو په دې کي هم د شک ځای نسته چي د دين د نصرت لپاره چي اسلام د کومي لاري سپارښتنه کړې ده او قرآن کريم هم اشاره ورته کړې ده هماغه جماعي عمل او ډله ييز کار او فعاليت دی، لکه چي لوی ښبتن فرمايي:

﴿وَلۡتَكُن مِّنكُمۡ أُمَّةٞ يَدۡعُونَ إِلَى ٱلۡخَيۡرِ وَيَأۡمُرُونَ بِٱلۡمَعۡرُوفِ وَيَنۡهَوۡنَ عَنِ ٱلۡمُنكَرِۚ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُفۡلِحُونَ ١٠٤﴾ [آل عمران: 104].

ژباړه: «په تاسي کي بايد يوه ډله هرومرو داسي وي چي (د علمي، اخلاقي او فني وړتياوو او صلاحيتونو د ترلاسه کولو وروسته) د نېکۍ او خير ښېګڼي لوري ته بلنه وکړي، په ښو امر وکړي او له بدو منع وکړي. کوم خلک چي دا کار وکړي، بريالي به سي».

د امت د لغت له دوو معنا وو څخه يوه يې د امت يوه برخه ده او ټول امت نه ځني مراديږي[١].

يعني: په پورتني آيت کي له «امت» څخه موخه او مطلب د مسلمانانو داسي يو جماعت دی چي د لوی ښبتن دين ته د نورو د وربللو او د امر په معروف او نهي له منکر او د دين د ملاتړ په کار لګيا وي.

ښکاره چي جماعت هم يو جمعي او ډله ييز تنظيم او تشکل دی، نو دغسي جماعت د دين د ملاتړ کار په منظمه توګه تر سره کوي او کار او فعاليت يې په دغسي بڼه د مسلمانانو تر بېلو بېلو او ځانځاني

١- تفسير زمخشری، 1 / 396.

فعالیتونو غوره او ګټور دی. دا په دې معنا چي د بېلو بېلو افرادو د سره پاشلو کوښښونو یو ځای کېده او د یو ډول منظم تشکیل په دننه کي ډله ییز فعالیت داسي پایلي لرلای سي چي په انفرادي هلو ځلو امکان نه لري. د دې خبري معنا داده چي منظم ډله ییز مشارکت او ګډ کار په قطعي توګه د اسلام غوښتنه ده او له هغو چارو څخه باله سي چي لوی څښتن تعالی یې خوښوي. ځکه پخپله لوی څښتن د دین د ملاتړ لپاره د جمعي کار له لاري د یوله بله همکارۍ او تعاون امر کړی دی، لکه چي فرمایي:

﴿وَتَعَاوَنُواْ عَلَى ٱلۡبِرِّ وَٱلتَّقۡوَىٰ﴾ [المائدة: 2].

ژباړه: «په نېکو چارو او د تقوا په کارونو کي یو له بله تعاون او همکاري سره وکړئ».

او د تعاون غوښتنه داده چي د مرسته کوونکو هلي ځلي، د یوه جمعي تنظیم له لاري سره ګډي او شریکي سي. دا د دې معنا ورکوي چي د خیر ښېګڼي د چارو د ترسره کولو لپاره باید «د ګډو هلو ځلوتنظیم» جوړ سي. او دا هم څرګنده ده چي تر ګردو لویه ښېګڼه د دین مرسته او نصرت دی.

پر دې بنسټ ویلای سو چي: د شریعت له مخي د «ډله ییزو هلو ځلو تنظیم» جوړول؛ یعني اسلامي جماعت رامنځ ته کول یو غوره او مستحب کار دی. البته د امکان او د شرایطو د مساعدت په صورت کي.

د دغسي تنظیم شتون ته د زیاتي اړتیا پر مهال، په دې شرط چي موخه ځني د دین ملاتړ وي. د دغسي تنظیم د جوړېدو د استحباب درجه نوره هم لوړه ځي، ان چي د باطل د ځواکمنۍ په صورت کي

او د حق او د حق د خاوندانو سره د باطل د خاوندانو د دښمنۍ د سختۍ او شدت په حالت کي د دغسي تنظيم جوړېده د وجوب تر پولي رسيږي.

نو په داسي حال کي چي د باطل او باطل پالو ځواک او زلندي تردې اوسنۍ کچي رسېدلې وي، په انفرادي هلو ځلو د باطل سره ډغري وهل او مدافعه نه سي کېدای. بلکي د حق له خاوندانو څخه ګډې هلي ځلي غواړي، داسي چي حق پالونکي د ځواک او قوت له پلوه تر باطل پالو پياوړي او ځواکمن وي او يا خو لږ تر لږه سره برابر او مساوي وي. او دا هله کېدای سي چي د يوه تنظيم ؛ يعني د يوه متحد اسلامي جماعت د رامنځ ته کېدو له لاري د دردمنو اوغيرتمنو مسلمانانو هلي ځلي چي د دين د نصرت او د باطل د مدافعې په موخه يې ترسره کوي، سره ګډې سي.

پر مسلمانانو ده چي د دغسي اسلامي جماعت په رامنځ ته کېدو سره ورسره يو ځای سي. ځکه چي دا هماغه د لوی څښتن ګوند دی او غړي يې د لوی څښتن اوليا باله سي او رامنځ ته کېده يې د لوی څښتن د دې امر تحقق دی:

﴿وَلۡتَكُن مِّنكُمۡ أُمَّةٌ يَدۡعُونَ إِلَى ٱلۡخَيۡرِ...﴾.

او امت خو لکه چي دمخه مو وويل د «جماعت» معنا ورکوي او جماعت د «ډله ييزتنظيم» په معنا دی او د دې تنظيم له شتون څخه موخه او مقصد هم د لوی څښتن د دين مرسته او ملاتړ دی. نو د دغسي تنظيم سره يوځای کېده د الله د دين په مرسته او نصرت کي برخه اخيسته باله سي او د دې دين مرسته پر هرمسلمان او مسلماني واجب ده.

## څلورم: د نصرت بل عامل هم جهاد او د ځواک برابرول دي

په شتو او په ځان جهاد لـه ديني فرايضـو څخـه بالـه سي. خـو دا فريضه که له ټولو مسلمانانو څخه نه وي هېره، د هغو له زيـاتو څخـه هرومرو هېره سوې ده. پـه داسـي حـال کي چي جهـاد د بريـاليتوب يوازنۍ لار او د عزت او د الله د ديـن د غلبـې، د باطـل د مـاتي او د لوی څښتن د رضا د لاسته راوړلو ستره وسيله ده، او پرېښوول يې د باطل او باطل پالو په ګټه او لوړتيا او د مسلمانانو په خواري او د هغو د ځواکمنۍ، دبدبې او دولت په له منځه تلو تمـامېږي. لـوی څښـتن فرمايي:

﴿كُتِبَ عَلَيْكُمُ ٱلْقِتَالُ وَهُوَ كُرْهٌ لَّكُمْ ۖ وَعَسَىٰٓ أَن تَكْرَهُوا۟ شَيْـًٔا وَهُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ ۖ وَعَسَىٰٓ أَن تُحِبُّوا۟ شَيْـًٔا وَهُوَ شَرٌّ لَّكُمْ ۗ وَٱللَّهُ يَعْلَمُ وَأَنتُمْ لَا تَعْلَمُونَ ﴿٢١٦﴾﴾ [البقرة: 216].

ژباړه: «پر تاسي باندي جنګ فرض سو، په داسي حال کي چي هغه تاسي ته ستونزمن دی، کېدای سي چي له يوه شی څخه ستاسي بد راسي، خو هغه تاسي ته خير وي. او کېدای سي چي تاسي يو شی ښه وبولئ، خو هغه ستاسي لپاره بد وي. (د کارونو په ښه او بد) لوی څښتن پوهيږي، نه تاسي».

دغه آيت فرمايي چي جهاد ستاسي پر طبع او مذاق برابر نه دی او ښه مو نه ځني راځي، خو د ﴿وَعَسَىٰٓ﴾ لفظ د ايجـاب، لـزوم او يقـين پـه معنـا دی، نـو د آيـت معنـا داسـي ده: د جهـاد ډېـري سـختۍ او زحمتونه دي چي ستاسي په نظر ښه نه درځئ، خـو حـال دا دی چـي پر دښـمن بانـدي غلبـه، د ولجـو پـه لاس راوړل او د لـوی څښـتن د خوښي، اجر او ثواب تر لاسه کول چي د جهاد لـه لاري حاصـلېږي،

تول تاسي ته خير او ښېګڼه ګڼل کيږي.

﴿وَعَسَىٰٓ أَن تُحِبُّواْ شَيۡـًٔا وَهُوَ شَرٌّ لَّكُمۡ﴾.

يعني: ډېري هوسايي او سوکالۍ دي او دغه راز د جهاد پرېښوول دي چي ستاسي په پام ښه درځي، په داسي حال کي چي دا چاري څنګه چي ستاسي د ذلت، د عزت او سترتوب او واکمنۍ د له منځه تلو لامل ګرځي، تاسي ته شر او تاواني دي.

امام قرطبي وايي: «د جهاد د پرېښوولو په هکله د تاوانونو خبره بېخي پر ځای ده، په اندلس(پخوانۍ اسلامي اسپانيه) کي کټ مټ همدغسي پېښه سوه. د دغه ځای د مسلمانانو د جهاد پرېښوول او د جګړي پرمهال د دوی بې زړه توب او کهالي او د جګړي له ډګر څخه د تېښتي عادت د دې لامل سو چي دښمن پر دغو سيمو ولکه ټينګه کړي او مسلمانان ووژني، اسير يې کړي او مالونه يې غلا او لوټ کړي. ﴿إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّآ إِلَيۡهِ رَٰجِعُونَ﴾!! دغه کرغېړني پايلي دغو مسلمانانو پخپله په خپلو ناسمو کړنو ځانونه پېښي کړې»[1].

**د جهاد پرېښوول د لوی څښتن د عذاب بلنه ده:**

دمخه مو د جهاد د پرېښوولو په سبب پر مسلمانانو باندي د ذلت او خوارۍ د راتلو او د هغو د عزت د له منځه تلو خبره وکړه. اوس د جهاد د پرېښوولو نوري بدي پايلي د دې آيت په څرګندونکي وګورئ:

١- تفسير قرطبی، 3 / 38 و 39.

﴿إِلَّا تَنفِرُواْ يُعَذِّبۡكُمۡ عَذَابًا أَلِيمٗا وَيَسۡتَبۡدِلۡ قَوۡمًا غَيۡرَكُمۡ وَلَا تَضُرُّوهُ شَيۡـٔٗاۗ وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٌ ٣٩﴾ [التوبة: 39].

ژباړه: «که تاسي جهاد ته ولاړنه سئ، نو سخته سزا به درکړي او ستاسي پر ځای به بل قوم راپاڅوي او (په يقين سره پوه سئ چي تاسي له اسلام څخه په ملاتړ نه کولو سره يوازي خپلو ځانو ته تاوان رسوئ او) الله ته هيڅ زيان نه رسوئ او الله د هر کار د بشپړولو وس لري».

امام ابن عربي مالکي د دې آيت په هکله فرمايي: «د دې آيت له مخي د دې لپاره چي د لوی څښتن کلمه، دين او قوانين لوړ سي په اخلاص سره جهاد ته وردانګل او د کفارو جنګ ته وتل شرعاً واجب باله سي. او په آيت کي چي د کوم دردناک عذاب وعده سوې ده، هغه به هم پر دې دنيا هغو کسانو ته چي تر اوسه يې دغسي درد نه وي ليدلی، د دښمن په مسلطېدو سره او هم به په هغه دنيا کي د دوږخ په اور سره ورکړل سي. پر دې سربېره به د دغو کسانو پر ځای نور واکمن سي»[١].

دغه راز شهيد سيد قطب رحمه الله په دې هکله وايي: «هغه جزا چي له جهاد څخه سرغړوونکو ته ورکول کيږي، نه يوازي اخروي ده، بلکي دنيوي هم ده. د دښمن له لاسه د ذلت، ګړاوونو او ډول ډول تېريو او سپکاويو ليدل او زغمل، د دښمنانو او ټيټو عناصرو او ارذالو نوکری او اطاعت ته اړ کېدل، له خپلو ښو او ښاديو او ښېګڼو او نعمتونو (او خپلواکی او په خپل هيواد کي له آزاد اوسېدلو او آزادی) څخه بې برخي کېدل او دا هرڅه د اغيار په لاس او ولکه کي ليدل دا ټوله د

١- ابن عربی، احکام القرآن، 2 / 937 او 938.

هغو تېښته همتو او له جهاد څخه د مخ اړوونکو د دې دنيا عذاب دی. هر ملت چې جهاد ته شا کړځولې ده لوی څښتن يې پر تندي د ذلت او خوارۍ مهر لګولی دی او په پايله کې يې د دښمن سره د مبارزې څو برابره تاوان پرې کړی او د هغو له لاسه يې خوارۍ، سپکاوی او بدمرغۍ ګاللي دي»[1].

**هغه څه چې له جهاد څخه مخ اړوونکو ته ويل کيږي:**

(الف) لوی څښتن په قرآن کريم کې دغو کسانو ته په يادونه کې داسې فرمايلي دي:

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مَا لَكُمۡ إِذَا قِيلَ لَكُمُ ٱنفِرُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ ٱثَّاقَلۡتُمۡ إِلَى ٱلۡأَرۡضِۚ أَرَضِيتُم بِٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا مِنَ ٱلۡأٓخِرَةِۚ فَمَا مَتَٰعُ ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا فِي ٱلۡأٓخِرَةِ إِلَّا قَلِيلٌ ٣٨﴾ [التوبة: 38].

ژباړه: «ای مومنانو! په تاسې څه سوي دي چې کله تاسې ته د الله په لار کې د وتلو لپاره وويل سي، نو تاسې درانه سئ مځکې ته زور کړئ ؟ آيا د آخرت پر ځای مو د دنيا په ژوند زړه تړلی دی ؟ که داسې ده نو پوه سئ چې د دنيوي ژوندانه دا ټول وسايل به په آخرت کې ډېر لږ راووزي».

نو څوک چې د جهاد بلنې ته مثبت جواب نه وايي او يا په لټې او ناخوښې جنګ ته درومي، د يادونې په توګه ورته ويل کيږي:

﴿أَرَضِيتُم بِٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا مِنَ ٱلۡأٓخِرَةِۚ﴾.

يعني: آيا د آخرت د بشپړې او همېشنۍ نېکمرغۍ او سوکالۍ پر ځای چې په جهاد سره يې په لاس راوړلای سئ، د دنيا د ژوند په هوسايي او د هغه په نيمګړو او له منځه تلونکو خوښيو او خوندونو

---

١- سيد قطب، فی ظلال القرآن، 4 / 224.

قانع سوي یاست؟

﴿فَمَا مَتَٰعُ ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا فِي ٱلۡأٓخِرَةِ إِلَّا قَلِيلٌ ٣٨﴾ [التوبة: 38].

یعني: آخر د دنیا خوښي ډېره لږ ده!!

رسولﷺ د دنیا د نعمتونوهیڅ توب او د هغې ماهیت او د هغې د خوندونو موده د اخروي خوندونو په پرتله د هغه چا سره ورته بللې ده چي خپله ګوته د سمندر په اوبو ننباسي او بېرته یې را وباسي. بیا رسولﷺ وفرمایل: نو تاسي فکر وکړئ چي دغه سړي به له خپله ځانه سره څه راوړي وي؟[1].

(ب) دغه راز د جهاد د تلو په اړه سستي کوونکو یا جهاد ته نه تلونکو کسانو ته هغه څه ویل کیږي چي حضرت رسولﷺ د جهاد او مجاهدینو په هکله فرمایلي دي او هغه څه ورته ویل کیږي چي عالمانو له قرآن کریم او نبوي سنتو څخه په فهم او پوهه ویلي دي. له دې جملې څخه د رسولﷺ دا قول دی:

«مَا أَحَدٌ يَدْخُلُ الْجَنَّةَ يُحِبُّ أَنْ يَرْجِعَ إِلَى الدُّنْيَا وَلَهُ مَا عَلَى الأَرْضِ مِنْ شَيْءٍ، إِلاَّ الشَّهِيدُ، يَتَمَنَّى أَنْ يَرْجِعَ إِلَى الدُّنْيَا فَيُقْتَلَ عَشْرَ مَرَّاتٍ، لِمَا يَرَى مِنَ الْكَرَامَةِ». په بل روایت کي داسي راغلي دي: «لِمَا يَرَى مِنْ فَضْلِ الشَّهادَةِ»[2].

ژباړه: د هیڅ جنتي ان د مځکي د مخ د ټولو شیانو د ورکولو په مقابل دا نه وي خوښه چي بیرته دنیا ته ولاړ سي، خو یوازي شهید د ده د قدر او ارزښت د زیاتوب یا د ده د شهادت له امله د ډېرعزت د

---

١- تفسیر المنار، 10 / 423.

٢- بخاري، کتاب الجهاد، باب تمني المجاهد، ٢٨١٧حدیث.

ليدلو په سبب غواړي چي بيرته دنيا ته ولاړ سي او لس ځله شهيد سي.

ابن بطال د دې حديث په تشريح كي وايي: «دا تر ټولو بشپړه او غوره خبره ده چي د شهادت د فضيلت په هكله ويل سوې ده. ځنګه چي له شهادت پرته بل هيڅ غوره كار د سربښندني لامل نه كيږي، نو په دې سبب يې د اجر او ثواب كچه هم دغونه ډېره ده»[1].

امام احمد بن حنبل رحمه الله فرمايلي دي: «تر فرايضو وروسته تر جهاد بل ډېر ښه كار نسته. يوازي همدا د دښمن سره جګړه كوونكي دي چي له اسلام او اسلامي پولو څخه ننګه او دفاع كوي. نو تر دې بل كوم كار غوره دی؟ د دوی په بېره او سربښندنه كي نور په امن كي وي. همدا دوی دي چي د لوی څښتن په لار كي تر سرونو تېريږي»[2].

شيخ الاسلام ابن تيميه د اسلامي هيواد د پولو د ساتني د ارزښت او حساسيت په هكله، چي پر مسلمانانو باندي د دښمنانو د يرغل لار باله سي، داسي وايي: «د اسلامي اورشوګانو د پولو رشتيانۍ ساتنه په مكه مكرمه، مدينه منوره او بيت المقدس كي تر اعتكاف ډېره غوره او افضله ده»[3].

**جهاد ته د ځواكونو چمتو كول:**

د دښمن په وړاندي د جهاد او له اسلامي هيواد څخه د دفاع په

---

۱- ابن حجر عسقلانی، شرح صحيح البخاری، 6 / 32 او 33.

۲- ابن قدامه حنبلی، المغنی، 8 / 348 و 349.

۳- ابن تيميه حرانی، مجموع فتاوی، 28 / 418.

هکله یوازې ټینګ عزم او هوډ بسنه نه کوي، بلکې لکه څنګه چې لوی ښځتن لارښوونه کړې ده، د جهاد لپاره د لازمو تجهیزاتو برابرول او چمتو کول هم په ټینګه په کار دي:

قال الله تعالی:

﴿وَأَعِدُّواْ لَهُم مَّا ٱسۡتَطَعۡتُم مِّن قُوَّةٖ وَمِن رِّبَاطِ ٱلۡخَيۡلِ تُرۡهِبُونَ بِهِۦ عَدُوَّ ٱللَّهِ وَعَدُوَّكُمۡ وَءَاخَرِينَ مِن دُونِهِمۡ لَا تَعۡلَمُونَهُمُ ٱللَّهُ يَعۡلَمُهُمۡۚ وَمَا تُنفِقُواْ مِن شَيۡءٖ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ يُوَفَّ إِلَيۡكُمۡ وَأَنتُمۡ لَا تُظۡلَمُونَ ٦٠﴾ [الأنفال: 60].

ژباړه: «او تاسې تر څو چې مو وس وي ډېر زیات ځواک او تیار زین کړي اسونه د هغو (دښمنانو) د مقابلې لپاره برابر کړئ څو په دې وسیله د الله پر دښمنانو، پر خپلو دښمنانو او پر هغو نورو دښمنانو تره او بېره راولئ چې تاسې یې نه پېژنئ، خو الله یې پېژني. د الله په لار کې چې تاسې هرڅه ولګوئ، د هغو بشپړ مکافات به ستاسې لوري ته راوګرځول سي او له تاسې سره به هیڅکله ظلم ونه سي».

په دغه آیت کې له ﴿مِّن قُوَّةٖ﴾ څخه موخه او مقصد د جګړې هر هغه څه دي چې د جګړې د ځواکونو او وسایلو شمېر زیاتوي او پیاوړی کوي. ﴿رِّبَاطِ ٱلۡخَيۡلِ﴾ رباط د اسانو یو ځانګړی ډول دی چې په جګړه او د پولو په ساتنه کې په کاریږي.

د ﴿ٱلۡخَيۡلِ﴾ په ورزیاتېدو سره ښېل جنګي اسان ځانګړي سوي دي. ﴿تُرۡهِبُونَ بِهِۦ عَدُوَّ ٱللَّهِ وَعَدُوَّكُمۡ﴾ یعني په دې توګه د لوی ښځتن او خپل دښمنان چې یهود او دعربو کفار دي په تره او وحشت کې اچوئ. ﴿وَءَاخَرِينَ مِن دُونِهِمۡ﴾ یعني نور کفار چې دښمني یې څرګنده نه ده. ﴿وَمَا تُنفِقُواْ مِن شَيۡءٖ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ﴾.

يعني: د وس په اندازه او د اسلامي پولو د دفاع په موخه د چمتو کېدو لپاره چي هرڅونه شته ولګوئ، ډېر وي که لږ، نقدي وي که غير نقدي لوی څښتن يې په بشپړه توګه بېرته در کوي[1].

**د ځواک مفهوم او ځواک بخښونکي عوامل:**

لوی څښتن فرمايي:

﴿وَأَعِدُّواْ لَهُم مَّا ٱسۡتَطَعۡتُم مِّن قُوَّةٖ﴾.

ژباړه: «او تاسي تر څو چي مو وس وي ډېر زيات ځواک برابر کړئ».

په دې آيت شريف کي د ﴿قُوَّةٖ﴾ کلمه په نکره او عامه توګه راغلې ده او د کوم ځانګړي ځواک په کوم ډول نه ده محدوده سوې، او بيا د ځواک له ډولونو څخه يوازي يو ډول ځواک چي «جنګي اسان» دي ياد سوي دي. او شک نسته چي د ځواک معنا د جګړې پر ټولو هغو وسايلو مشتمله ده چي مسلمانانو ته د دښمن په جنګ کي په کار ورځي، په هر وخت او په هرځای کي چي وي. خو آيا له ځواک څخه موخه يوازي هغه ځواک او د جګړې هغه وسايل دي چي مسلمانان يې د دښمن د جګړې او د هغه د شر د دفعي لپاره په چمتو کېدو امر سوي دي ؟ او آيا له ځواک څخه مطلب يوازي پوځي او نظامي ځواک دی؟ تر کومه ځايه چي زه د قوت په معنا او د هغه د کارولو په هکله پوهېږم معنا يې عبارت ده: د غوښتنو او ارادو د پلي کولو او ترسره کولو له وس څخه، پرته له دې چي د نورو خوښه يا نه خوښه په پام کي ونيول سي. د غوښتنو او ارادو

---

١- تفسير زمخشری، 2 / 232 – تفسير قرطبی، 8 / 35 تا 38، تفسير آلوسی، 10 / 26 او تفسير المنار، 10 / 61.

څرنګوالی هم فرق کوي: کله ناکله موخه د اغیارو دفع وي. کله هم مقصد د هغو لیري کېده وي. یو مهال هم مقصد د هغو له منځه وړه وي. کله هم مطلب پر هغو باندي د واک او تسلط ټینګښت وي. او کله هم موخه داوي چي هغوی د یو څه ورکولو ته اړ کړه سي.

ځواک او قوت هم د دې کلمې د معنا (د موخي د عملي کولو د وس) له مخي تعریفیږي. کله هم ځواکمني د پوځیانو د مجهز کېدو، د هغو د جنګي زده کړو او د دیني لارښوونو پر بنسټ د لوی څښتن په لار کي د جهاد کولواو شهادت غوښتني سره د میني په روحیه د هغو د روزني له لاري تر سره کیږي. کله هم دغه ځواکمني د لایقو قوماندانانو د ټاکلو او د پوځ د اړتیاوو د لیري کولو (د پوځیانو د خوراک، پوښاک، سنګر او نورو جنګي لوازمو د برابرولو)، کله هم له اقتصادي او تولیدي پلوه پر خپل ځان باندي د هیواد د تکیې او پیاوړتیا له لاري تر سره کیږي. او بالاخره همدا ځواکمني د هیواد په ټولو اقتصادي، اجتماعي، صنعتي، زراعتي او داسي نورو برخو کي د علم او پوهي د خپرېدو او غوړېدو له لاري د عالمانو او کارپوهانو په روزنه تر سره کیږي. البته دغه ټول یاد سوي موارد د مهال او ځای په تناسب بدلون مومي، خو پر ایماني بنسټونو باندي د افرادو روزنه بدلون نه مومي، ځکه دا داسي روزنه ده چي تل تر تله ثابته ده او د مهال او مکان په بدلون سره هیڅ بدلون نه مومي.

**د ځواک چمتو کول اسلامي دنده ده:**

اسلامي امت ته د ځواک برابرول او چمتو کول، د ځواک په هغه معنا چي دمخه یاده سوه، څنګه چي امر په سوی دی، له اسلامي دندو څخه باله سي. او امر هم د اصولو له مخي د وجوب لپاره وي،

مګر چې داسي «قرينهٔ صارفه» (منصرفوونکې او ګرځوونکې قرينه، نخښه يا وجه) وجود ولري چې د امر وجوب له منځه وړي. نو څنګه چې دلته کومه داسي قرينه نسته نو دا امر د وجوب لپاره دی او هغه د لوی څښتن دا قول دی:

﴿وَأَعِدُّواْ لَهُم مَّا ٱسۡتَطَعۡتُم مِّن قُوَّةٖ﴾.

«او تاسي تر څو چې مو وس وي ډېر زيات ځواک برابر کړئ».

ټول اسلامي امت يا د امت هغه استازی يا مقام چې د امت لخوا د دې امر ترسره کېده ورسپارل سوي وي. په دې آيت کي د موجود امر او فرمان مخاطب باله سي. د امت موخه د ولسمشر يا خليفه يا واکمن له ټاکلو څخه داده چې هغه د مسلمانانو د نايب په توګه هغه دندي تر سره کړي چې په ټوله اسلامي ټولنه اړه ولري. له هغې جملې څخه يوه دنده دا هم ده چې د ملت له قدرت څخه په استفاده د جهاد لپاره لازم ځواک برابر کړي. د مسلمانانو خليفه يا مشر دا اجازه نه لري چې د دې دندي په ترسره کولو کي تقصير او کوتاهي وکړي او که داسي وکړي د امت پر ټولو افرادو، په تېره د دوی پر اهل حل او عقد (باوري لويانو او مخورو) لازمه ده چې له خليفه څخه وغواړي څو د اسلام د پوځ د چمتو کېدو او تجهيز په اړه لازمي کړني ترسره کړي.

د بېلو بېلو دنيوي علومو تر لاسه کول هم د ځواک د چمتو کولو له ضرورتونو څخه باله سي. چې په دې صورت کي د دې علومو زده کول واجب کفايي دي، ځکه هغه کار چې واجب په ترسره کيږي، هم واجب دی.

**د پوځ ښه روزنه هم د ځواک چمتو کول بلل کېږي:**

د یوه روزل سوي او پیاوړي پوځ جوړېده هم د ځواک له چمتو کېدو څخه باله سي. ځکه نو د مسلمانو پوځیانو ښه روزل او په اسلامي او ایماني ارزښتونو د هغو ښه سمبالول، د ډول ډول وسلو د کارولو په هکله د هغو د مهارتونو لوړول، د نظامي فنونو ور زده کول او د هغو د مورال د لوړ ساتلو او د مخکنیو زده کړو له هېرېدو څخه د مخنیوي په موخه، مهال په مهال په پوځي مانورو کي د هغو د ګډون لاري چاري برابرول، دا ټول د یوه پیاوړي اسلامي اردو د درلودلو له ضروریاتو څخه دي، چي ښایي پاملرنه ورته وسي.

زما د دې خبرو د تایید په هکله د رسولﷺ دې فرمودې ته ستاسي پام را اړوم:

«مَنْ عَلِمَ الرَّمْيَ ثُمَّ تَرَكَهُ، فَلَيْسَ مِنَّا». أَوْ «قَدْ عَصَى»[1].

ژباړه: څوک چي غشي وشتل زده کړي او بیا دغه کار پرېږدي، له موږ څخه نه دی. یا: د ګناه مرتکب سوی دی.

**مسلمانان باید داسي پوځ ولري چي دښمن په بېره کي واچوي:**

دې مبارک آیت ته یو ځل بیا پام وکړئ:

﴿وَأَعِدُّواْ لَهُم مَّا ٱسۡتَطَعۡتُم مِّن قُوَّةٍ وَمِن رِّبَاطِ ٱلۡخَيۡلِ تُرۡهِبُونَ بِهِۦ عَدُوَّ ٱللَّهِ وَعَدُوَّكُمۡ وَءَاخَرِينَ مِن دُونِهِمۡ لَا تَعۡلَمُونَهُمُ ٱللَّهُ يَعۡلَمُهُمۡۚ وَمَا تُنفِقُواْ مِن شَيۡءٖ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ يُوَفَّ إِلَيۡكُمۡ وَأَنتُمۡ لَا تُظۡلَمُونَ ٦٠﴾.

ژباړه: «او تاسي تر څو چي مو وس وي ډېر زیات ځواک او تیار زین کړي اسونه د هغو (دښمنانو) د مقابلې لپاره برابر کړئ څو په دې وسیله

---

۱- مسلم، کتاب الامارة، باب فضل الرمي، ۱۹۱۹ حدیث.

د الله پر دښمنانو، پر خپلو دښمنانو او پر هغو نورو دښمنانو تره او بېره راولئ چي تاسي يې نه پېژنئ، خو الله يې پېژني. د الله په لار کي چي تاسي هرڅه ولګوئ، د هغو بشپړ مکافات به ستاسي لوري ته راوګرځول سي او له تاسي سره به هيڅکله ظلم ونه سي».

لکه چي څرګنديږي لوی څښتن مو ږ ته په پورتني آيت کي امر کړی دی چي د لوی څښتن او زموږ د دښمنانو په زړونو کي د بېري اچولو په موخه پوځي ځواک چمتو کړو. د دې معنا داده: کوم پوځي ځواک چي مسلمانان جوړوي بايد داسي يو پياوړی پوځ وي چي دښمن ځني وبېريږي او دا موخه هغه مهال ترسره کيږي چي د مسلمانانو ځواک د کفارو ترځواک دونه زيات او لوړ وي چي کفار يې له بېري، پر مسلمانانو، اسلامي اورشوګانو او اسلامي واکمنيو د تېري او يرغل جرأت ونه کړای سي، هغوی پر مسلمانانو او اسلامي واکمنيو باندي د بريالیتوب له امکان څخه نهيلي کړي او مسلمانان يې له شره په امان سي.

د دښمن د بېرولو لپاره د دغسي پياوړي پوځي ځواک چمتو کول اړينه چاره ده. په دې هکله سستي يا په يو لږ شمېر بسنه کول جواز نه لري. دا بسنه نه کوي چي وويل سي او په دې زړونه پوړه کړو چي موږ پر حق يو او کفار پر باطل دي نو موږ خامخا کامیابه کیږو. بلکي حق بايد په يقين سره دا ځواک اوپياوړتيا ولري چي حق حمايه کړای سي، باطل وبېروي او د اسلامي دولت پر اورشو باندي له تعرض څخه يې په وحشت کي واچوي او په ټينګه يې مخه ونيولای سي.

## پنځم: صبر، مصابره او مرابطه

د نصرت له عواملو څخه بل هم صبر(په مړانه سره د کړاوونو او ناخوالو زغمل)، پر دښمن باندي د غلبې موندلو په چاره کي له زيات زغم، مړاني او ټينګار څخه کاراخيستل او موخي ته د رسېدو په لار کي پرله پسې جد او جهد کول او د دې سنګر نه پرېښوول دي:

لوی څښتن په قرآن کريم کي لارښوونه کوي:

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ٱصْبِرُوا۟ وَصَابِرُوا۟ وَرَابِطُوا۟ وَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ﴿٢٠٠﴾﴾ [آل عمران: 200].

ژباړه: «ای مومنانو! له زغم څخه کار واخلئ، د باطل پالو په وړاندي تر هغو زيات زغم او مړانه وښياست، خپلي پولي وساتئ او له الله څخه وبېرېږئ، هيله ده چي بری ومومئ».

﴿ٱصْبِرُوا۟﴾.

يعني: د دښمن سره د جګړې له امله پرستونزو او کړاوونو صبر وکړئ.

﴿وَصَابِرُوا۟﴾.

يعني: د هغو دښمنانو په وړاندي زيات زغم وښياست او ټينګ اوسئ کوم چي ستاسي د ماتولو او لاندي کولو لپاره په زغم سره مقابله کوي او غواړي چي د حق هغه دېوه چي ستاسي په لاس کي ده ووژني. او په صبر او زغم کي تر دوی مه کمېږئ. په دې توګه د «مصابرة» معنا ده: د صبر او زغم په ډګر کي د دښمن په وړاندي ټينګار او مقاومت.

﴿وَرَابِطُواْ﴾.

يعني: د پولو د ساتلو لپاره جګړې ته د تيار سئ په حال کي اوسئ او د خپلو جنګي اسونو(جنګي تجهيزاتو اومهماتو) سره دښمن ته متوجه او څارو اوسئ، څو ستاسي د اورشو دننه نفوذ ونه کړای سي.

زموږ په مهال کي د پولو ساتونکو ته لازمه ده چي د دښمن د دفعي او د اسلامي اورشوګانو د دفاع او ساتني لپاره هر ډول نوي او د اړتياوړ وسلې او مهمات ولري.

﴿وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ لَعَلَّكُمۡ تُفۡلِحُونَ ٢٠٠﴾.

د تقوا او پرهېزګارۍ رعايت ته د لوی څښتن اشاره په دې معنا ده چي جهاد بايد د تقوا او له لوی څښتن څخه د بېري د موازينو په پام کي نيولو سره وسي. پر دې بنسټ صبر، په ټينګار کي د دښمنانو سره سيالي، د اسلامي پولو ساتنه او څارنه او له ګنهونو څخه د ليري اوسېدو له لاري د تقوا غوره کول او په هغو کارونوعمل چي د خدای خوښ وي، دا ټول په دنيا کي پر دښمن باندي د غلبې له عواملو څخه دي. دغه راز د اخلاص، د حق او عدالت د اقامې او د لوی څښتن د دين د بريالیتوب د رشتيني موخي شتون (کوم چي بايد په جهاد او جګړه کي د مسلمان ستري موخي وي) په هغه دنيا کي هم د ژغورني لاملونه ګڼل کيږي[1].

پر دې سر بېره په صبر، مصابره او مرابطه باندي امر که څه هم مفسرينو د دښمنانو په وړاندي او د هغو سره د جګړې پرمهال تفسير

---

١- تفسير زمخشری، 1 / 160. تفسير قُرطُبی، 4 / 327 تر 332. التفسير القيم، د ابن قيم جوزيه ليکنه، 217. تفسير المنار، 4 / 318 او 319.

کړی دی، خو د آیت ظاهر ته په پاملرنه کېدای سي وویل سي چي دا امر د دښمن سره د مخامخ کېدو ټول اړخونه؛ څه د جګړې په ډګر کي؛ څه په نورو ساحو کي په غیر کي نیسي. البته په هغه صورت کي چي د دښمن سره د مخامخ کېدو ډول صبر او مصابرې ته اړتیا ولري. لکه د دښمن سره د مناظرې او مجادلې په حالت کي، یا د باطل پالو لخوا د حق خاوندانو ته د ستونزو د متوجه کولو په حال کي، یا د کفارو د مقاطعې او بندیزونو لګولو په حال کي او یا په داسي نورو هغو حالاتو کي چي د دښمن لخوا حق بلونکو ته د دوی په خپل هیواد کي پېښیږي.

**د صبر او مصابرې سره مرسته کوونکي عوامل:**

د لوی څښتن د دې قول یادونه او هغه ته پاملرنه د صبر او مصابرې سره زیاته مرسته کوي:

﴿إِن يَمۡسَسۡكُمۡ قَرۡحٞ فَقَدۡ مَسَّ ٱلۡقَوۡمَ قَرۡحٞ مِّثۡلُهُۥۚ﴾ [آل عمران: 140].

ژباړه: «که تاسي ټپیان سوي یاست، نو تر دې دمخه ستاسي دښمنان هم دغسي ټپیان سوي دي».

لوی څښتن په دې آیت کي بیانوي چي ټپي کېدل یا د ټپونو له امله درد او مشقتونه باید مسلمانان د دښمن په وړاندي له جهاد، هلو ځلو او ټینګار څخه راونه ګرځوي. ځکه څه چي مسلمانانو ته رسېدلي دي، هغه تر دې دمخه د دوی دښمنانو ته هم رسېدلي دي. نو چي کافران سره د دې چي پر باطلو ولاړ دي او بد برخلیک یې په مخکي دی، په جګړه کي د ور رسېدلو ټپونو او دردونو له امله نه پر شا کیږي او سستي او ضعف نه ښیي، تاسي چي مسلمانان یاست او ښه برخلیک مو دی او پر حق ولاړ یاست، ولي باید د دښمن په جګړه

کي د ټپونو او دردونو له امله سست او ضعيف سئ؟ تاسي خو بېخي بايد په دې سببونو سست او ساړه نه سئ[١].

بل چي د صبر او مصابرې سره مرسته کوي هغه د لـوی څښتن د دې وينا يادونه ده:

﴿وَلَا تَهِنُواْ فِي ٱبۡتِغَآءِ ٱلۡقَوۡمِۖ إِن تَكُونُواْ تَأۡلَمُونَ فَإِنَّهُمۡ يَأۡلَمُونَ كَمَا تَأۡلَمُونَۖ وَتَرۡجُونَ مِنَ ٱللَّهِ مَا لَا يَرۡجُونَۗ وَكَانَ ٱللَّهُ عَلِيمًا حَكِيمًا ١٠٤﴾ [النساء: 104].

ژباړه: «د کفارو په تعقيبولو او جګړه کي سستي مه کوئ. که تاسي کړاو ګالئ، نو هغوی هم ستاسي غوندي کړاو ګالي او تاسي له الله څخه د هغه څه هيله من ياست چي هغوی يې هيله من نه دي. الله په هر څه پوهيږي او هغه د حکمت او پوهي خاوند دی».

﴿وَلَا تَهِنُواْ﴾.

يعني: بې سېکه او ضعيفه کيږئ مه.

﴿فِي ٱبۡتِغَآءِ ٱلۡقَوۡمِۖ﴾.

يعني: د کفارو په لټولو او د هغو سره په جګړه کولو کي، ځکه که:

﴿إِن تَكُونُواْ تَأۡلَمُونَ فَإِنَّهُمۡ يَأۡلَمُونَ كَمَا تَأۡلَمُونَۖ﴾.

يعني: په مرګ ژوبلـه او ټپنګـار کـي درد او ګـړاو د دواړو مشـترک شی دی او دواړو لورو ته پېښـيږي، نـو چـي د درد لـه بېـري کفـار لـه جګړې څخه مخ نه اړوي، نـو تاسـي خـو يـې بېخـي بايـد وانـه ړوئ. ځکه تاسي خو:

﴿وَتَرۡجُونَ مِنَ ٱللَّهِ مَا لَا يَرۡجُونَۗ﴾.

يعني: له خدايه د جها د ثواب هيله من ياست چي دوی يې نه دي

---

١- تفسير رازی، 9 / 14.

هيله من، ځکه دوی په هغو ايمان او باور نه لري کوم چي تاسي يې په لرئ. نو تاسي بايد په جګړه او مقابله کي تر دوی زيات او وړاندي اوسئ.

## شپږم: د نصرت له عواملو څخه بل هم د لوی څښتن ذکر دی

د مسلمانانو د بري بل لامل د لوی څښتن ډېره يادونه او ذکر دی، څښتن تعالی فرمايي:

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا لَقِيتُمْ فِئَةً فَٱثْبُتُواْ وَٱذْكُرُواْ ٱللَّهَ كَثِيرًا لَّعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ﴿٤٥﴾﴾ [الأنفال: 45].

ژباړه: «ای مومنانو! کله چي د دښمنانو د کومي ډلي سره مخامخ سئ، نو ثابت قدمه اوسئ او الله ډېر ډېر يادوئ، ښايي چي بری مو په برخه وي».

د آيت تفسير دادی چي ای مسلمانانو کله چي د جګړې په ډګر کي د خپلو کافرو دښمنانو يا د اسلامي واکمنۍ پر ضد د ياغي سوو کسانو سره مخامخ سئ، نو په وړاندي يې ټينګ ودرېږئ او تښتئ مه. ځکه ټينګار او ثبات داسي يو معنوي ځواک دی چي ډېر وختونه بري ته د رسېدو ستر لامل سوی دی.

﴿وَٱذْكُرُواْ ٱللَّهَ كَثِيرًا﴾.

يعني: د جګړې تر پيلېدو دمخه او د جګړې په بهير کي لوی څښتن ډېر ډېر يادوئ او ذکر يې کوئ. دغه راز په خپلو زړونو کي د پيغمبرانو او مومنانو څخه د ننګي او دفاع په هکله د ده قدرت او وعده، د صبر کوونکو مومنانو او مجاهدينو سره د ده ځانګړې ملګرتيا، او له نهيلۍ څخه د ده منع او نهي، که څه هم په ډېرو سختو

شرايطو کي وي، او دا حقيقت چي د قدرت اصلي منبع لوی څښتن دی او هغه چي هر چاته وغواړي په خپل نه ماتېدونکي ځواک مرسته ور رسوي، ډېر ډېر يادوئ.

څوک چي دغه خبري يادي کړي او فکر پکښي وکړي، نو د لوی څښتن پر نصرت باندي د ايمان پيدا کولو په سبب به يې هيڅکله د دښمن واک او ځواک بې زړه او عاجز نه کړي. د لوی څښتن د ډېر يادولو په هکله دغه لارښوونه موږ ته راښيي چي مسلمان بايد ان د زړه د ډېري ناکرارۍ او زياتي خوابدۍ په حال کي هم د لوی څښتن په ذکر او يادولو کي سستي او غفلت ونه کړي.

﴿لَّعَلَّكُمۡ تُفۡلِحُونَ ٤٥﴾،

ژغورني او بري ته دغه هيله د همدغو دوو چارو په ترسره کولو اړه لري:

1- په ثبات او ټينګار.

2- د لوی څښتن په يادونه.

دغه دوه کاره د دنيوي بري او اخروي ثواب لاملونه دي[١].

په دې توګه پر مسلمان او اسلامي جماعت لازمه ده چي د باطل پالو په جګړه او مقابله کي لوی څښتن ډېر ډېر ياد کړي.

## اووم: د نصرت بل لامل هم احتياط دی

هوښياري او احتياط د بري شرط او غوښتنه بلل کيږي، لکه چي لوی څښتن فرمايي:

---

١- تفسير زمخشری، 2 / 226، تفسير آلوسی، 10 / 14 او تفسير المنار، 10 / 21.

﴿وَإِذَا كُنتَ فِيهِمْ فَأَقَمْتَ لَهُمُ ٱلصَّلَوٰةَ فَلْتَقُمْ طَآئِفَةٌ مِّنْهُم مَّعَكَ وَلْيَأْخُذُوٓاْ أَسْلِحَتَهُمْ ۖ فَإِذَا سَجَدُواْ فَلْيَكُونُواْ مِن وَرَآئِكُمْ وَلْتَأْتِ طَآئِفَةٌ أُخْرَىٰ لَمْ يُصَلُّواْ فَلْيُصَلُّواْ مَعَكَ وَلْيَأْخُذُواْ حِذْرَهُمْ وَأَسْلِحَتَهُمْ ۗ وَدَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَوْ تَغْفُلُونَ عَنْ أَسْلِحَتِكُمْ وَأَمْتِعَتِكُمْ فَيَمِيلُونَ عَلَيْكُم مَّيْلَةً وَٰحِدَةً ۚ وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ إِن كَانَ بِكُمْ أَذًى مِّن مَّطَرٍ أَوْ كُنتُم مَّرْضَىٰٓ أَن تَضَعُوٓاْ أَسْلِحَتَكُمْ ۖ وَخُذُواْ حِذْرَكُمْ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ أَعَدَّ لِلْكَٰفِرِينَ عَذَابًا مُّهِينًا ١٠٢﴾ [النساء: 102].

ژباړه: «کله چي ته ای پیغمبره د مسلمانانو په منځ کي اوسېږ (په داسي حال کي چي د جګړې او له دښمنانو څخه د بېري په حالت کي يې) د هغو سره پر لمانځه (د مسلمانانو سره د بېري پرلمانځه) درېږې، نو په کار ده چي(خپل پوځ دوې ډلي کړې او) له هغو څخه يوه ډله ستاسره ودرېږي (او بله ډله دښمن ته څارو سي) او هغو کسانو چي لمونځ کوي هم بايد د احتياط لپاره وسله اخيستې وي. بيا چي کله پر لمانځه ولاړو کسانو سجده وکړه نو پر شا دي ولاړ سي(او د پوځ په صف کي دي ودرېږي) او هغه بله ډله دي چي تر اوسه يې لمونځ نه دی کړی راسي ستا سره دي لمونځ وکړي او هغه دي هم تيار سئ، څارو او محتاط او په وسله سمبال اوسي، ځکه چي کافران دې ته څارو دي چي که تاسي له خپلو وسلو او تجهيزاتو څخه لږ غوندي غافل سئ، نو هغوی به پر تاسي يو وار يرغل وکړي. هو، که تاسي د اورښت له امله تکليف احساس کړئ يا ناروغان اوسئ، نو په وسله ايښوولو کي څه ګناه نسته، خو بيا هم څارو اوسئ. باور ولرئ چي الله د کافرانو لپاره رسوا کوونکی عذاب چمتو کړی دی».

په دې آيت کي خطاب حضرت رسول اکرمﷺ ته دی او کله چي مسلمانان د دښمن سره مخامخ او د جګړې په حال کي وي هغو ته د لمانځه طريقه بيانوي. د آيت معنا داسي ده چي په دغسي حالت کي

مسلمانان پر دوو ډلو ووېشه. لومړۍ دې يوه ډله پر لمانځه ودرېږي او ته هم لمونځ ورکړه. کله چې دغه ډله پر لمانځه ودرېږي، هغه ډله چې لمونځ نه کوي ستاسې تر شا دې د احتياط په رعايتولو سره وسله په لاس څار کوي.

﴿وَلۡيَأۡخُذُوٓاْ حِذۡرَهُمۡ وَأَسۡلِحَتَهُمۡۗ﴾.

دلته لوی ښتن «پام او احتياط» په جګړه کې د مسلمان له کارېدونکو جنګي سامان آلاتو څخه يوه آله بللې ده. له دې امله يې د احتياط او وسلې دواړو لپاره په ګډه توګه د «أخذ = اخيستلو» لفظ کارولی دی.

د دې په دوام فرمايي:

﴿وَخُذُواْ حِذۡرَكُمۡۗ﴾.

معنا داده چې لوی ښتن د اورښت يا ناروغۍ په صورت کې د وسلې د نه ورسره اخيستلو تراجازې وروسته، يوځل بيا هم دوی د هوښيارۍ او احتياط په ډېر زيات رعايتولو امر کړی دی. څو دښمن پر دوی باندې د چل ول او بريد کولو موکه پيدا نه کړي. دغه آيت په جګړه کې د احتياط پر وجوب دلالت کوي. دغه راز د ټولو پېښکې او احتمالي ضررونو په وړاندې د احتياط پر وجوب هم دلالت کوي[1].

﴿إِنَّ ٱللَّهَ أَعَدَّ لِلۡكَٰفِرِينَ عَذَابٗا مُّهِينٗا ١٠٢﴾ [النساء: 102].

د آيت دغه عبارت په ظاهره د دې معنا ورکوي چې دغه رسوا کوونکی عذاب چې کفارو ته رسيږي، هغه پر دوی باندې د

١- تفسير رازی، 11 / 25 و 26.

مسلمانانو د بري او غلبې عذاب دی. البته په هغه صورت کي چي مسلمانانو د دښمنانو په وړاندي د جنګي تجهیزاتو د برابرولو او چمتو کېدو په هکله د لوی څښتن امر ترسره کړی وي[۱].

**مسلمانو قوماندانانو به خپلو پوځیانو ته د احتیاط او د نصرت د نورو عواملو د رعایتولو امر کاوه:**

د تېرو سوو توکمونو مسلمانانو پر دښمنانو باندي د بریالیتوب عواملو ته د پاملرني د اړتیا په اړه د لوی څښتن په لارښوونو او اوامرو ډېر ښه پوهېدل او مسلمانو مشرانو او بولندویانو به تل خپلو پوځیانو ته د دې عواملو د رعایتولو او په پام کي نیولو امر کاوه.

په دې لړ کي ابن کثیر رحمه الله د شام د فتوحاتو پر مهال د رومیانو سره د مسلمانانو د «یرموک» د جګړې د پېښو د بیانولو په ترځ کي وایي: «کله چي دوه لښکر سره مخا مخ سول او د جګړې ډګر ته وردانګل پیل سول، د مسلمانانو د پوځ قوماندان ابوعبیده تر خپل فرمان لاندي سرتېرو ته داسي سپارښتنه او نصیحت وکړ: ای د لوی څښتن بنده ګانو! د لوی څښتن مرسته وکړئ، څوهغه ستاسي مرسته وکړي او پښې مو در ټینګي کړي. ای مسلمانانو! صبر او زغم غوره کړئ، ځکه چي صبر له کفر څخه ژغورونکی، د لوی څښتن خوښوونکی او د بې ننګی او عار له منځه وړونکی دی. بیا یې وویل: په داسي حال کي وخوځئ چي دښمن مو په نېزو سره په نخښه کړی او زغري مو اغوستي وي او پټه خوله او سئ، خو په زړونو د لوی څښتن ذکر

۱- تفسیر المنار، 9 / 375.

کوئ، ځو زه د لوی ښتن په مرسته د برید قومانده درکوم»[1].

د زغرو د اغوستو او د پټو خولو اوسېدو په هکله د ابو عبیده سپارښتنه، د شرعي احتیاط د په پام کي نیولو لپاره وه. پر دې باندي هرهغه شرعي احتیاط هم قیاسیږي چي د جګړې شرایط یې غوښتنه کوي. پر دې بنسټ په دغسي ټولو احوالو کي صبر، د خدای ذکر او د بري هوډ او عزم اړین باله سي. د حضرت ابوعبیده په سپارښتنو کي هم پوځیانو ته د نصرت د عواملو او د هغو د پلي کولو او په پام کي نیولو د اړتیا په هکله یادونه په همدې موخه وه.

۱- ابن کثیر، البدایة والنهایة، 7 / 7.

## د برې موانع

له مسلمانانو څخه د ملاتړ د الهي سنت تحقق د دې غوښتنه کوي چې مسلمانان د بریالیتوب له موانعو څخه ډډه وکړي او لیرې ځني واوسي او خپل شخصیت او اعمال په دې ډول ناخوالو ککړ نه کړي. یو له بله شخړې، د آمر له امره سرغړونه او غرور او ځان ښکاره کول، له دې موانعو څخه بلل کیږي.

### لومړی مانع: شخړې او اختلافونه

لوی څښتن په دې هکله فرمایي:

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا لَقِيتُمۡ فِئَةٗ فَٱثۡبُتُواْ وَٱذۡكُرُواْ ٱللَّهَ كَثِيرٗا لَّعَلَّكُمۡ تُفۡلِحُونَ ٤٥ وَأَطِيعُواْ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ وَلَا تَنَٰزَعُواْ فَتَفۡشَلُواْ وَتَذۡهَبَ رِيحُكُمۡۖ﴾ [الأنفال: 45-46].

ژباړه: «ای مومنانو! کله چې د دښمنانو د کومې ډلې سره مخامخ سئ، نو ثابت قدمه اوسئ او الله ډېر ډېر یادوئ، ښایي چې برى مو په برخه وي. او د الله او د هغه د پیغمبر امر منونکي اوسئ او په خپلو منځو کې شخړه مه کوئ، که نه نو په تاسې کې به کمزوري پیدا سي او برم به مو له منځه ولاړ سي».

د دې آیت له مخې یو له بله شخړه کمزورۍ اوماتې ته لار اواروي. چې د کار په پای ته رسولو کې د ناکامۍ په معنا باله سي او د ضعف او بې زړه توب له سترو لاملونو څخه بلل کیږي. ځکه نو مفسرینو د ﴿فَتَفۡشَلُواْ﴾.

معنا داسي کړې ده: د دښمن له ځواکونو څخه به په ډار کي ولوېږئ. او د هغو سره به په جګړه کي بې سېکه سئ.

﴿وَتَذۡهَبَ رِيحُكُمۡۖ﴾.

يعني: ستاسي واک او اقتدار به له منځه ولاړ سي. دې آيت د واک او اقتدار د له منځه تلو بهير د باد د الوتو سره تشبيه کړی دی[1].

## دوهم مانع: غرور او ځان ښکاره کول (ريا)

د بري له موانعو څخه بل هم غرور او د سرکښۍ، وياړ او ريا له مخي جګړې ته دانګل دي. څنګه چي لوی څښتن يوازي له هغو کسانو څخه ملاتړ کوي چي د لوی څښتن د خوښۍ د ترلاسه کولو، او د هغه د دين د ننګي او دفاع په موخه جهاد کوي، ځکه نو پخپله لوی څښتن په قرآن کي د رياکارۍ او د جګړې د جابرانه او ظالمانه اور بلووني څخه منع کوي او فرمايي:

﴿وَلَا تَكُونُواْ كَٱلَّذِينَ خَرَجُواْ مِن دِيَٰرِهِم بَطَرٗا وَرِئَآءَ ٱلنَّاسِ﴾ [الأنفال: 47].

ژباړه: «او تاسي د هغو کسانو غوندي مه کېږئ چي له خپلو کورونو څخه د وياړ ګټلو او سرکښۍ او خلکو ته د ځان ښوولو لپاره راووتل».

﴿بَطَرٗا﴾ يعني: په تکبر، سرکښۍ او لويۍ سره ﴿وَرِئَآءَ ٱلنَّاسِ﴾.

يعني: په ځان ښکاره کولو او رياکارۍ سره له کورونو راووتل څو خلک د هغو مړانه او سترتوب وستايي.

د آيت مطلب د ادی چي مومنان بايد په سرکښي او ځان ښکاره

---

۱- تفسير آلوسی، 10 / 14، تفسير المنار، 10 / 25.

کولو کې د دغسې کسانو سره ورته نه سي او امر ورته سوی دی چې د تقوا او اخلاص څښتنان واوسي[۱].

## نصرت د لوی څښتن له لوري دی:

د مخه مو وویل چې د مسلمانانو د نصرت په هکله د لوی څښتن سنت غوڅ او ازلي سنت دی چې هیڅکله بدلون نه مومي او هیڅکله داسي نه کیږي چې پلی نه سي، خو تحقق یې د هغه د تحقق د عواملو په رامنځ ته کولو او د هغه د تحقق د موانعو په نه شتون اړه لري. پر مسلمانانو لازمه ده چې د لوی څښتن د لارښووني سره سم د نصرت دغه عوامل راغونډ او چمتو کړي او همدغه موانع لیري کړي. خو د دې سره سره بیا هم باید دوی پر خدای توکل او اعتماد وکړي، نه پر هغو سببونو او عواملو چې د لوی څښتن د امر د تر سره کولو او د بري د ترلاسه کولو په موخه یې چمتو کړي دي. د دوی اعتماد باید پر لوی څښتن وي، نه د بري پر هغو اسبابو او جنګي وسلو او وسایلو چې چمتو کړي یې دی او په دې یې هم باید زړونه پوړه نه وي چې موږ خو د بري له موانعو څخه ډډه کړې ده، نو به بريالي سو، بلکې د دوی زړونه د دې سره سره باید په لوی څښتن او د هغه په تایید او مرسته پوړه او تړلي وي. زموږ پر دې خبرو د لوی څښتن دا وینا دلالت کوي:

﴿إِذْ تَسْتَغِيثُونَ رَبَّكُمْ فَٱسْتَجَابَ لَكُمْ أَنِّى مُمِدُّكُم بِأَلْفٍ مِّنَ ٱلْمَلَٰٓئِكَةِ مُرْدِفِينَ ۝٩ وَمَا جَعَلَهُ ٱللَّهُ إِلَّا بُشْرَىٰ وَلِتَطْمَئِنَّ بِهِۦ قُلُوبُكُمْ ۚ وَمَا

---

۱- تفسیر آلوسی، 10 / 14.

﴿ٱلنَّصۡرُ إِلَّا مِنۡ عِندِ ٱللَّهِۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ١٠﴾ [الأنفال: 9-10].

ژباړه: «او هغه مهال در په یاد کړئ چي تاسي له خپل پروردګار څخه د مرستي او ملاتړ غوښتنه کول. هغه هم ستاسي غوښتنه ومنل او ویې فرمایل چي زه ستاسي د مرستي لپاره پرله پسې زر ملایکي درلیږم . البته داخبره الله تاسي ته یوازي د دې لپاره دروښوولي چي تاسي ته یو ډول زیری وي او ستاسي زړونه په پوره سي. که نه نو مرسته خو چي هر کله کیږي د هماغه الله له لوري کیږي. په یقیني توګه الله لاسبری او د حکمت څښتن دی».

﴿وَمَا جَعَلَهُ ٱللَّهُ إِلَّا بُشۡرَىٰ﴾.

یعني: لوی څښتن په ملایکو سره دغه مرسته در کول تاسي ته د دې زیری کړی دی چي ډېر ژر به لوی څښتن د ژمني سره سم ستاسي مرسته وکړي.

﴿وَلِتَطۡمَئِنَّ بِهِۦ قُلُوبُكُمۡۚ﴾.

یعني: څو ستاسي زړونه تر دې ناکرارۍ وروسته ډاډه سي.

﴿وَمَا ٱلنَّصۡرُ إِلَّا مِنۡ عِندِ ٱللَّهِۚ﴾.

یعني: نصرت د لوی څښتن لخوا دی، نه د ملایکو او نورو اسبابو لخوا. مادي او معنوي لاملونه چي هر څه وي، خو حقیقي فاعل لوی څښتن دی، ځکه دغه ټول اسباب د ده په واک کي دي[١].

## د اسلامي جماعت بریالیتوب:

اسلامي جماعت لوی څښتن ته د خلکو د بللو او د اسلامي

---

١- تفسیر الزمخشري، 2/ 202، تفسیر المنار، 9/ 608.

شريعت د واکمن کولو په کار کي د حق او باطل د جګړې په هکله د لوی څښتن د سنت او کړنلاري تابع دی. ځکه نو پر جماعت لازمه ده چي د باطل د دفعي او د خپل حق پيغام (د اسلام د دين) د بريالیتوب او د اسلامي حکومت د رامنځ ته کولو او ټينګښت لپاره د بري عوامل برابر کړي او له موانعو څخه يې ځان وژغوري.

جماعت ښايي په خپل ارزښتناک کار او غوره جهاد کي د خلکو د مخ اړولو او نه منني سره مخ سي او د دښمنانو لخوا د ناسمو کارونو په کولواو باطل پالنه تورن سي. ځکه نو جماعت بايد د دې واقعيتونو په درکولو او په خپلو ارزونو او محاسبو کي هغو ته په ځای ورکولو سره دې ټکي ته پام واړوي چي د دعوت په لار کي خنډ اچول، د دعوتګرانو دروغجن بلل، د دين د منلو او خپرېدو په وړاندي مقاومت او په باطل پالنه باندي د بلونکو (دعوتګرانو) تورنول په اوسمهال اړه نه لري، بلکي دا ټول هغه څه دي چي د لوی څښتن پيغمبران هم ورسره مخامخ کېدل او دا د هغو د دعوت د تاريخ يوه برخه جوړوي. نو اوسنی اسلامي جماعت بايد وپوهيږي چي دوی نه لوی څښتن ته تر پيغمبرانو ورتېر دي او نه د دلايلو او اخلاص له مخي تر پيغمبرانو غوره دي. د لوی څښتن رسولان وزورول سول، دروغجن وبلل سول او په باطلو تورن سول، خو له حق او هغه ته له بلني يې لاس وانه خيست او لکه څنګه چي لوی څښتن لارښوونه ورته کړې وه صبر يې وکړ او تر دې صبر، زغم او ټينګار وروسته د لوی څښتن له مرستي او نصرت څخه برخمن سول، لکه چي لوی څښتن فرمايي:

﴿وَلَقَدْ كُذِّبَتْ رُسُلٌ مِّن قَبْلِكَ فَصَبَرُواْ عَلَىٰ مَا كُذِّبُواْ وَأُوذُواْ حَتَّىٰٓ أَتَىٰهُمْ

نَصۡرُنَاۚ وَلَا مُبَدِّلَ لِكَلِمَٰتِ ٱللَّهِۚ﴾ [الأنعام: 34].

ژباړه: «تر تا دمخه ډېر پيغمبران دروغجن ګڼل سوي دي، خو هغو پر هغه دروغجن ګڼلو صبر وکړ او وزورول سول، خو هغو زورونو او کړاوونو ته چي ور ورسول سول تېنګ سول. څو چي بالاخره هغو ته زموږ مرسته ورسېده. د الله د مقرراتو د بدلولو وس په هيچا کي نسته».

د لوی څښتن له هغو کلمو (مقرراتو) څخه موخه چي بدلون نه پکښي راځي دا الهي قانون دی:

﴿وَلَقَدۡ سَبَقَتۡ كَلِمَتُنَا لِعِبَادِنَا ٱلۡمُرۡسَلِينَ ١٧١ إِنَّهُمۡ لَهُمُ ٱلۡمَنصُورُونَ ١٧٢ وَإِنَّ جُندَنَا لَهُمُ ٱلۡغَٰلِبُونَ ١٧٣﴾ [الصافات: 171-173].

ژباړه: «زموږ د لېږلو سوو بنده ګانو په اړه زموږ ازلي ژمنه داده چي په يقيني ډول به د هغو سره مرسته وسي او همدا زموږ لښکر به هرومرو لاسبری سي».

په دې آيت کي د مومنانو د نازولو او خوشالۍ تکی دادی چي لوی څښتن چي د کوم نصرت ژمنه د خپل پيغمبرﷺ سره کړې وه، کټ مټ يې د هغه نصرت ژمنه د مومنانو سره هم کړې ده. دغه راز لوی څښتن موږ ته خبر راکړی دی چي د پيغمبرانو او د هغو د پيروانو د ملاتړ او نصرت په هکله د هغه سنت حتمي، ازلي او قطعي دی، لکه چي فرمايي:

﴿إِنَّا لَنَنصُرُ رُسُلَنَا وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا وَيَوۡمَ يَقُومُ ٱلۡأَشۡهَٰدُ ٥١﴾ [المؤمن:51].

ژباړه: «باور ولرئ چي موږ د خپلو پيغمبرانو او مومنانو مرسته هرومرو د دې دنيا په ژوند کي هم کوو او په هغه ورځ کي به يې هم وکړو چي شاهدان ودرېږي».

نو د مومنانو د نصرت او ملاتړ په هکله د لوی څښتن سنت د اسلامي جماعت په هکله هم تحقق مومي، خو په دې شرط چې اسلامي جماعت د نصرت اسباب او شرايط برابر کړي او پر ځان يې پلي کړي.

## د اسلامي جماعت د اړتيا وړ ځواک:

اسلامي جماعت بايد هڅه وکړي چې د مخالفانو تر ځواک پياوړی ځواک راغونډ کړي. د اسلامي جماعت ځواک هم په خلکو کې د اسلامي ويښتيا په خپرېدو، د هغو په زړونو او ذهنونو کې په ځای نيولو او د جماعت ليکو ته د رشتينو او مخلصو مسلمانانو په جذبولو اړه لري. څنګه چې اسلامي ويښتيا خپره سي، په ټولنه کې ريښې ټينګې کړي او پراختيا ومومي او د اجتماع په ټولو کړيو کې عموميت پيدا کړي، او د جماعت د غړو او پلويانو په زياتوب سره د هغه ځواک غلبېچ اوغښتلی سي، نو به الهي نصرت ته نژدې سي.

## جماعت بايد له شخړو او مخالفتونو څخه ډډه وکړي:

جماعت بايد د برياليتوب له موانعو څخه د ډډې کولو په ترڅ کې د غړو ترمنځ يا د غړو او د جماعت د مشر ترمنځ له شخړو او مخالفتونو څخه ځان ليري وساتي. له دې ناروغۍ څخه د ژغورنې لار داده چې خپل زړونه د نفسي غوښتنو له ناولتياوو څخه پاک کړو او ورسره ورسره بايد په همېشنۍ توګه زموږ پر کړنو او اندونو باندې د لوی څښتن نظارت او څارنه په پام کې ونيسو او ټول خپل نيتونه د لوی څښتنﷻ په وړاندې سم کړو او له هر ډول غل او غش څخه يې سپېڅلي کړو. البته يوازې دا هم بسنه نه کوي، بلکې بايد د

جماعت د کار د پرمخ بیولو د څرنګوالي او د هغه سره د غړو د اړیکو او د جماعت د مشرتابه د دندو او صلاحیتونو په هکله واضح او دقیقه تګلار او کړنلار ترتیب او تصویب سي. په دې صورت کي که د تګلارې له مخي مشرتابه ته واک ورکړه سوی وي چي د جماعت د شورا د مجلس تر سلامشورې وروسته تصمیم ونیسي او کار وکړي، نو پر غړو لازمه ده چي د امیر یا مشر د هغو اوامرو چي د شریعت د حکمونو سره برابر وي، اطاعت وکړي. یا که د تګلارې له مخي د جماعت امیر د جماعت د شورا د اکثریت غړو په رایه او تصویب مقید وي، نو د جماعت امیر د شریعت په حدودو کي د شورا د اکثریت د رایي په منلو او اطاعت ملزم او مقید دی، او د جماعت غړو ته لازمه ده چي د شورا د مجلس هغه تصویبونه چي د امیر لخوا د ترسره کولو او پلي کولو لپاره د جماعت لاندنیو کړیو ته ابلاغیږي، ومني او پلي یې کړي. په دغسي توګه د جماعت کار په واقعي معنا ډله ییز او جماعي بلل کیږي او په سمه او منظمه توګه او بې له کومي ګډوډۍ، اختلاف او شخړي پر مخ ځي. جماعت ته دغسي کار په دغسي کیفیت اړین دی ان که کله هم په ځینو مواردو او جزئیاتو کي تېروتنه هم پېښیږي، ځکه که د جماعت لپاره کار په جمعي او اتفاقي توګه تصویب سوی وي، خو تېروتنه پکښي سوې وي، تر هغه سم کارچي اختلاف او نزاع پکښې وي لږ ضرر لري. او قاعده ده چي: د درانه ضرر د دفعي لپاره دي سپک ضرر ومنل سي.

## اسلامي جماعت باید له ریا او شبهه ناکو چارو څخه ډډه وکړي:

اسلامي جماعت باید په خپل کار او فعالیت کي له ریا کارۍ څخه

لیري واوسي او هیڅکله د دې سره مینه ونه لري چې خلک یې له کاره خوښ سي او ویې ستایي. ځکه ریا کاري جماعت د لوی ښښتن له الطافو او د هغه له تایید او رضا څخه بې برخي کوي. د جماعت اصلي دنده داده چې په داسي اعمالو چې لوی ښښتن یې خوښوي د هغه رضا ترلاسه کړي، که څه هم خلک په ناراضه کیږي او نه یې خوښوي، او د خلکو د داسي خوښې له تر لاسه کولو څخه دي چې خدای په ناراضه کیږي، لیري اوسي.

خو دا د دې معنا نه لري چې جماعت دي د خلکو غوسې او ناخوښۍ ته هیڅ پام نه کوي او د دوی د زړونو د تر لاسه کولو سره دي هیڅ علاقه نه لري. نه داسي نه ده، د خلکو رضائیت پر جماعت باندي د هغو د اعتماد لامل ګرځي. پر جماعت باندي د خلکو باور زښت زیات اړین دی. خو جماعت ته نه ښایي چې دیني ارزښتونه تر ټولني جار کړي او د خلکو د رضائیت د حاصلولو لپاره د شریعت خلاف اعمال ترسره کړي.

دا لاڅه چې جماعت باید هغه کارونه هم ونه کړي چې په خپل ذات کي یا ټولو خلکو ته مباح وي، خو پر جماعت باندي د خلکو د نیوکو لامل ګرځي. څو په دې توګه باطل پالو ته چې تل د پلمو په لټه کي دي او ډنډورې خپروي د تور لګولو موکه په لاس ورنه سي. ځکه په خلکو کي تل داسي ساکښان ډېر وي چې ناروا تورونه مني او تشي ډنډورې او آوازې بې له دلیله رشتیا ګڼي... نو پر جماعت باندي د خلکو د باور لپاره له شبهه ناکو چارو څخه ډډه کول او د مباح کارونو پرېښوول له داسي لازمو چارو څخه باله سي چې په پام کي نیول یې واجب ګڼل کیږي. په دې هکله زموږ دلیل دادی چې سره د

دې چې د لیک لوست زده کول مباح کار دی، لوی څښتن د بدویونکو د خولو د تړلو په منظور او د دې لپاره چې کفار رسولﷺ په دې تورن نه کړي چې قرآن کریم یې له پخوانیو کتابونو څخه نقل کړی دی، هغهﷺ یې د لیک لوست له زده کولو څخه لیري وساتی، لکه چې په دې اړه په قرآن کریم کي فرمایي:

﴿وَمَا كُنتَ تَتْلُوا۟ مِن قَبْلِهِۦ مِن كِتَـٰبٍ وَلَا تَخُطُّهُۥ بِيَمِينِكَ ۖ إِذًا لَّٱرْتَابَ ٱلْمُبْطِلُونَ ﴿٤٨﴾﴾ [العنکبوت: 48].

ژباړه: «ای پیغمبره تا د قرآن تر نازلېدو دمخه کوم کتاب نه لوستی او نه دي په خپل لاس لیکی. که داسي وای نو باطل پالي په شک کي لوېدلای سول».

د دې آیت په تفسیر کي راغلي دي: که ته په لیک لوست پوهېدلای، نو د باطل پالو پلمه جوړه وه او ویل به یې: څنګه چې پیغمبر ﷺ لیکونکی او لوستونکی دی، نو ښایي چې د مخکنیو پیغمبرانو ټول پخواني کتابونه یې لوستي وي او د هغو له منځه یې ځیني یادښتونه را اخیستي وي او بیا به یې هغه مهال په خپل عبارت او سبک د قرآن کریم په بڼه لیکلي وي. خو اوس سره د دې چې دغه شبهه نه سي کېدای بیا هم باطل پالو له خپلو دروغجنو پلمو او چټي خبرو لاس وانه خیست او دغه خبري کوي. له دې امله رسول الله ﷺ کلونه کلونه د لیک لوست له زده کولو پرته د دوی په منځ کي واوسېدی او بیا یې دغه معجز کتاب ورته راوړ کوم چې

ويناوال او ليکونکي ارېان ورته پاته سول[۱].

۱- تفسير زمخشرى، 3 / 458، تفسير ابن كثير، 3 / 417، تفسير رازى، 25 / 76، فى ضلال القرآن، 6 / 9.

# د ژباړن لنډه پېژندنه

**عبد المالک «همت»**

- د پلار نوم یې مولوي عبدالرزاق.
- د کندهار په سوزني کې زیږېدلی.
- د زیږېدو کال یې ۱۳۳۲ لمریز.
- په اسلامي او ټولنیزو علومو کې یې خصوصي زده کړې کړې دي.
- د نجیب د واکمن کېدو په لومړیو کې له هیواده مهاجر سو، لومړي پاکستان او بیا هند ته کډه سو.
- کله چې لا طالبان پر کابل نه وه واکمن سوي تر اوږدې کډوالۍ وروسته هیواد ته راستون سو او تر اوسه په کندهار کې استوګن دی.
- اوس په کور کې د کتابونو په لیکلو بوخت دی.
- تر اوسه یې لاندي آثار لیکلي دي:

1- د همت چیغه (شعري ټولګه) په ۱۳۸۰ل.کال خپره سوې ده.
2- سید جمال الدین افغاني اند او ژوند (ژباړه) په ۱۳۸۱ل.کال خپره سوې ده. په ۱۱۳۸۹.کال دوهم ځل خپور سو.
3- زموږ د قبلې تاریخ (دمکې مکرمې تاریخ) په۱۳۸۵.کال دوهم ځل خپور سو.
4- زموږ د نبي مېنه (د مدینې منورې تاریخ) په ۱۳۸۵ل.کال خپور سو.

5- ادب او ادبي کره کتنه په ۱۳۸۵ل.کال خپور سو.
6- د مقالې لیکلو اصول په ۱۳۸۵ل.کال خپور سو.
7- زموږ صحت او آخرت ته تاواني توکي په۱۳۸٦ل.کال خپور سو.
8- پښتو معلم الحجاج (ژباړه) په ۱۳۸٦ل.کال خپره سوه.
9- پوپنا سوي ولسونه (ژباړه). په ۱۳۸٦ل.کال خپره سوه.
10- زموږ د دښمنانو تور تاریخ او شومي موخي په نامه کتاب په ۱۳۸۷ ل. کال خپور سو.
11- د آسیا نن او سبا په نامه (ژباړه) په ۱۳۸۷ل.کال خپره سوه.
12- غرور او د هغه علاج (ژباړه) په ۱۳۸۸ل.کال خپره سوه.
13- د کلمې شریفي حقیقت (ژباړه) په ۱۳۸۸ل.کال خپره سوه.
14- د ښځو د حج او عمرې لارښود په ۱۳۸۸ل.کال خپور سو.
15- اسلام د دوه لاري پر سر (ژباړه) په ۱۳۸۸ل.کال خپور سو.
16- د حق او باطل جګړې، په ۱۳۸۸ل.کال خپور سو.
17- د لوېدیځ مشران وایي: اسلام او مسلمانان له منځه یوسئ. چاپ ته چمتو دی.
18- د حق او باطل د جګړې په هکله (۲۵) مقالې. چاپ ته چمتو دی.
19- د حق او باطل په جګړه کي الهي سنت، دغه دی ستاسي په لاس کي دی.

پر دې سربېره یې د هیواد په دننه او دباندي کي بېلي بېلي مقالې هم خپرې سوي دي.

- د ليکوال د ګرځنده تليفون لمبر: 0093 700300167
- د ليکوال د برېښناليك يا ايمېل آدرس:

**himmat_ afg@yahoo.com**